د میرمنو

دحج مسائل



لیکوال: مولانا محمد رفعت قاسمي

د دیوبند د دارالعلوم مدرس

ژباړن: عبدالله ګل "ریان"

مکتبه رشیدیه

سرکی روډ کوئټه فون: ۲۶۶۸۲۵۷، ۲۶۶۲۲۶۳



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

دقرآن او حديث په رڼا کې

دميرمنو

دحج

مسائل

ليکوال : مولانا محمدرفعت قاسمي

د ديوبند د دارالعلوم مدرس

ژباړن: عبدالله ګل "ريان

خپرندوی: رشيديه کتابخانه، کوټه

دکتاب ځانګړتیاوې:

د کتاب نوم : دمیر منو حج

لیکوال : مولانا محمدرفعت قاسمي

ژباړن : عبدالله ګل "ریان"

کمپوز: سواد فرهنګي ټولنه

کمپوزر : بشیراحمد"ریان"

تصحیح کوونکی : مولوي سفرمحمد "عابد"

دچاپ کال : ۱۴۳۱هـ ق ۱۳۸۹لمریز

خپرندوی : رشیدیه کتابخانه ، کوټه

فهرست

انتساب

زه مې د دي تحقیق (دمیرمنو لپاره دحج مکمل او مدلل مسائل)
ښلې ګرانې مرحومي خور ته، په منسوب کولو نیکمرغي
رلاسه کول غواړم. هغه چې د ۱۴۲۹ هق کال دمحرم الحرام
په ۲٦ نیټه (۴- فبرو ري -۲۰۰۸م) وفات شوه. له خویندو
ځخه دهغې لپاره دثواب او درجو دلوړتیا ددعا غوښتنه کوم
. الله تعالی دي له هغې سره درحمت او مغفرت، عفو او
بخښنې او خپل خاص کرم او فضل معامله وکړي. آمین.

(محمد رفعت قاسمي)

دليکوال عرض

نحمده ونصلي علی رسوله الکريم !

زما په ترتيب شوي کتاب (دحج مکمل او مدلل مسائل) کې دميرمنـو او سـړيو لپـاره ضـروري مســائل راغلـي دي ، خو ددوستانو مشوره داوه چې ميرمنې به ددې پېرړ (ضخيم) کتاب څخه ځرنګه ګټه واخلي، له همدې امله مې په دې کتاب (دميرمنو لپاره دحج مسـائل) کې د ميرمنو پـه اړه مسائل بيل کړل. مثلاً دميرمنو لپاره دمحرم شرط ولې دی؟ چاتـه محرم ويـل کيږي او څوک محرم کيدلای شي . لـه محرم څخه پرتـه حج تـه تلل، دحج لپاره دميرمنو يـوازې سفر کول ، دميرمنو احرام بـه ځرنګـه او څومره وي . دحج په وخت کې دميرمنو بې احتيـاطي، ميرمني به حج ځرنګه کوي؟ که دحج پـه ورځو کې يې حيض يا نفاس پيښ شي، دهغوی په هکله ضروري مسائل .ميرمنې بـه لـه احرام څخه ، تلو پـه مهـال څومره وينستان اخلـي؟ لـه ميرمنو سره کـه واړه ماشومان وي، دهغوی دحج پـه هکله ضروري مسائل.

لنډه داچې له کور څخه نيولي ، دحج پـه مهال او بيا کورتـه تر راتګ پوري، الحمدلله ټول ضروري مسائل پکې يوځای شوي دي رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّکَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ .

دعا غوښتونکی ،محمد رفعت قاسمي غفرله

ددیوبند خادم

۵ ذي قعده ۱۴۲۹ (مطابق ۵ نومبر ۲۰۰۸)، دجمعې شپه.

د ديوبند ددارالعلوم شيخ الحديث او صدر المدرسين
فقيه النفس مولانا مفتي سعيداحمد صاحب مدظله:

تقريظ

الْحَمْدُ للّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ والصلوٰة والسلام على عبده و رسوله الكريم محمد رحمة للعلمين وعلى آله واصحابه اجمعين.

اما بعد: ماته دخوشحالي ځای دی چې، محترم ورور، د ديوبند ددارالعلوم استاذ، مولانا قاري محمدرفعت صاحب د(ميرمنو لپاره دحج) مفصل احکام ترتيب کړي دي. نوموړی ماشاء الله بريالی دی، دهغه په قلم ډيرکتابونه ليکل شوي دي او په عام او خاصو کې مقبول دي.

له همدي امله، پوره هيله ده چې داکتاب (دميرمنو لپاره حج) هم هغسې بلکې تر هغه لا ښه شي، ځکه انسان هره رانلونکې ورځ دپرمختګ پړاوونه وهي او دښېګنو لورته په مخ ځي.

دعا کوم چې همدا کتاب هم دخدای تعالی په دربارکې دقبول شرف حاصل کړي او امت ته يې فيض ورسيږي.

کتبه:

سيعداحمد عفی الله عنه پالن پوري

دديوبند ددارالعلوم دمفتي،مولانا محمود حسن بلند شهري صاحب

تقریظ

الحمدلله الذي .فق من شاء من عباده من المؤمنين والمؤمنات لاتمام الحج والعمرة من العبادات والصلوة والسلام على عبده سيدنا ونبينا محمدالذي بين المناسک والاخر من احكام الدين وعلى اله وصحبه الذين قاموا بالدين القويم وعلى من تبعهم باحسان الى يوم الدين. وبعد!

دسپېڅلي شريعت داحکامو په ځای کولو کې چې، غفلت کیږي ، بیخي ښکاره ده . همدا وجه ده چې، مسلمانان هره ورځ مخ په ځوړ روان دي. الله تعالی دې ټول مسلمانان په سليم فهم سره ونازوې .له ذلت او سستې څخه دې وژغوري . په ځانګړي توګه دحج او عمري په څير په مهمو عبادتونو کې کموالی ورځ په ورځ عاميږي ، له دنيا څخه ضيوف الرحمن(دالله تعالی ميلمانه) او محرم زايرين ډلي ، ډلي په ډير شمير کې حرمينو شريفينو ته رسيږي ،خو هغه برکتونه .او ثمري چې ورڅخه ښايې هغه يې دنيست په درجه کې دي . په دې کې په ځانګړي توګه هغه کمښتونه چې دميرمنو له لوري کيږي، ډير وخت خو دحج او عمري روح فناه کوي. که يې په اصلاح کې غفلت وشي ،نو ويره ده چې ،داسلام

دخطري په خير وليدل شي. خداى جل جلاله دي وکړي چي خويندې حج او عمره نصيب وکړي. له ګټو او برکتونو څخه يي برخمنې شي او بيرته خپلو کورونو ته راوګرځي.

له همدې امله داکتاب (دميرمنو لپاره دحج مکمل اومدلل مسائل) انشاء الله دلاري مشال (مشعل) ثابتيږي. ما داکتاب له پيله تر پايه وکوت، ليکوال يې ماشاء الله په خورا ښه طريقه دحج او عمرې ضروري او مهم امور راټول کړي دي. که دميرمنو دحج اراده وي او داکتاب ولولي دبيا اوريدلو او اورولو اهتمام يي وکړي او نورو ميرمنو ته يې د وراورولو معمول وګرځوي. انشاء الله دهغه ثمري، برکتونه او ګټې به په خپله ويني. مسلمانانو سړيو ته يي هم لوستل، اوريدل او اورول او په خپلو کورونو کې يې لارښوونې ميرمنو ته ښودل، له ډيرو ګټو څخه خالي نه دي. که خلک دې لور ته پاملرنه وکړي، په حکمت او بصيرت سره ميندې، خويندې وپوهوي نوکتاب به د (مشک آنست که خود ببويد نه که عطار بگويد – مشک هغه دي چي خپله يي بوی کړي نه دا چي عطار ووايي) مصداق وګرځي. فقط.

هذا ماكتبه : احقر الزمن العبد محمود حسن بلند شهري غفرله والوالديه واحسن اليهما واليه.

خادم التدريس والافتاء جامعة دار العلوم ديوبند.

ددیوبند ددارالعلوم دمفتي دنائب، مولانا مفتي زین الاسلام قاسمي صاحب

تقریظ

حامداً ومصلیاً ومسلماً !

ددرانه ملګري ، محترم مولانا قاري محمد رفعت قاسمي صاحب دام فیضه وعم نفعه کتاب (دمیرمنو لپاره دحج مسائل) مي تورې په توري ولوست. دمیرمنو لپاره یې دمسائلو غوره لنډیز چمتو کړی دی. انشاء الله ،له دې څخه به میرمنو ته ډیري اسانتیاوي ترلاسه شي. دهغوی ډیري پریشانی به ورکي شي.دعا ذه چې الله تعالی دا تولګه هم ګټوره او مقبوله وګرځوي او نوموړي مولانا ته دخیر بدله ورکړي.(آمین)

ددرویشانو دپښو خاوري
زین الاسلام قاسمي

بسم الله الرحمن الرحيم

وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ الله غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ .(آل عمران:۹۷)

ژباړه: دالله لـه لـوري، پرهغو خلكـو ددي خـونې (كعبـي شريفي) حـج فـرض شـوى دى چـې دلاري تـوان ورسره وي او چاچې انكاركړى دى نـو بايـد پوه شي چـې الله پـاک لـه ټولو خلكو څخه بې پروا دى.

دبيت الله دحج فرض كيدل

په ايت شريف كې، دبيت الله درېيمه ځانګړتيا دابيان كړي شوي ده چې، الله تعالى په خپل مخلوق باندي دبيت الله حج كول لازم كړى دى. په دې شرط چې بيت الله تـه درسيدلو وس ولـري. دوس تفصيل داد ى چـې لـه هغـه سره بـه تـر اصلي ضرورياتو دومره څه زيات وي چې، بيت الله تـه درسيدلو، بيرته راتللو او هلته دهستوګنې مصرف ولري او تر راتلو يې داهل او عيـال ګـذاره وكـړل شـي . دهغـوى چـې نفقـه يـې وربانـدې لازمـه ده. همداسې بـه پـه لاسونو ، پښو او سترګو معذور نـه وي .ځكـه داسې خلكو تـه لـه هيواد څخـه تلل او بيرته ورتـه راتلل مشكل دي. هلتـه تګ او دحج دارکانو پـه اداء كولو بـه ځرنګـه وس ولـري. داچې ميرمنې تـه لـه محرم

وي، که هغه په خپل لګښت ځي او که ددې په پیسو حج کوي. همداسې هلته درسېدلو دلارې حفاظت او خوندیتوب هم اوس یو جز دی. که په لاره کې امنیت نه وي، د ځان او مال ډېره ویره وي نو بیا د حج کولو وس نشته.

د حج لغوي معنی قصد کول دي او د شرعي معنی تفصیل قرآن کریم کړی دی چې طواف، د عرفې وقوف، مزدلفه او نور دي. نور تفصیل یې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خپلو لارښوونو کي څرګند کړی دی. په دې آیت کې د حج د فرض کیدلو ترا علان وروسته وایي:

{وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ الله غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ .}

(څوک چې منکر دي نو الله تعالی له ټولو عالمیانو څخه بې نیازه دی.)

په دې کې هغه څوک داخل دي چې په ښکاره د حج له فرضیت څخه منکر دي، حج فرض نه ګڼي. د هغه له اسلام څخه وتل او کفر ښکاره دی. په هغه باندې ومن کفر، لفظ صادق دی. خو څوک چې یې په عقیدوي لحاظ فرض ګڼي او بیا له وس او استطاعت سره، سره حج نکوي هغه هم په یوه حیث تري منکر دی. په هغه باندې ومن کفر، دلفظ اطلاق د تهدید او تاکید لپاره دی چې، دا شخص د کافرانو په شان عمل اخته دی. هغوی چې حج نکوي دی هم هغسي دی. له همدې امله فقهاء رحمهم الله وایي چې، د آیت داجمله، دهغو خلکو لپاره سخت وعید دی چې، له وس او قدرت لرلو سره، سره حج نکوي، د خپل دې عمل له امله د کافرانو په څېر وي. العیاذ بالله.

دحج فضائل او مسائل

حج داسلام یو ستر رکن دی. داسلام دبشپړتیا اعلان په حجة الوداع کې وشو او په حج باندې داسلام ارکان پوره شول. په مبارکو حدیثونو کې دحج او عمرې ډیر فضائل بیان شوي دي. په یوه مبارک حدیث کې راځي: (څوک چې یوازې دالله تعالی درضا لپاره حج وکړي، بیا نه بده خبره وکړي او نه کومه نافرماني وکړي، هغه داسې پاکیږي لکه مور څخه دزیږیدلو په ورځ چې پاک وي.)

په یوه بل حدیث کې راځي چې، له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه پوښتنه وشوه: تر ټولو غوره عمل کوم یو دی؟ ارشاد یې وکړ: په الله اورسول یې ایمان راوړل. عرض یې وکړ، بیا؟ ارشاد یې وکړ: دالله تعالی په لاره کې جهاد کول. عرض یې وکړ، بیاتر هغه وروسته؟ ارشاد یې وکړ: مبرور حج، تر یوې عمرې وروسته بله عمره ددوی ترمنځ وخت دګناهونو کفاره ده او دمبرور حج بدله پرته له جنت څخه بل څه نه ده.)

په یوه مبارک حدیث کې دي: (پرلپسې حج او عمرې کوئ، ځکه دا دواړه مو له فقر او ګناهونو څخه داسې پاکوي لکه بټۍ چې اوسپنه، سره او سپین زر له خیرو څخه پاکوي، دمبرور حج ثواب یوازې جنت دی.)

حج دالهي مینې مظهر اوبیت الله دالهي تجلیاتو مرکز دی. له همدې امله، دبیت الله زیارت اودرسول الله(صلی الله علیه وسلم) دربار ته

حاضر یدل دهرمؤمن دزړه غوښتنه ده .

که دچا په زړه کې دا غوښتنه ونه څلیږي، نو پوه دې شي چې دهغه دایمان رېښې وچې شوي دي.

په یوه بل حدیث کې دي : "څوک چې بیت الله ته د رسیدلو زاد(توښه) او راحله(سپرلی) لري ، هغه بیاهم حج ونکړي، دهغه په هکله دابې توپیره ده چې یهودي ومري او که نصراني ."

په یوه بل حدیث کې راځي : "دچاچې کومه اړتیا دحج مانع نه وي ، نه پاچا او نه دناروغۍ عذر وي، نو دهغه اختیار دی چې یهودي مري او که نصراني." (مشکوة شریف ج ۱ ص ۲۱۱)

دحاجې صاحبانو کاروان چې له کورونو څخه رخصتیږي. دګلانو امیلونه وراچول ګواکې دحج جز دی، که هغه نه وي نو دحج لپاره ګواکې تلل عیب دی، خو دتګ په مهال دخشیت ، تقوی ، دحقوقو داداء ، دمعاملاتو خلاصول او د سفر دپیل کولو دادابو اهتمام هیڅ نه ترسترګو کیږي. ته به وایې ددې مبارک سفر پیل له ادابو پرته یوازې په ځان ښودنه او دریاء په چاپیریال کې کیږي.

په قرآن کریم کې چې دحج په سلسله کې کومې مهمې لارښوونې شوي دي، هغه دادي : {دحج په دوره کې نه فحش خبرې شته ، نه بې فرمانې او نه هم جنګ جګړه.}

په حدیثونو کې هم دمقبول حج نښې داسې ښودلې شوی

دي: [له بدو خبرو او نافرمانۍ څخه پاک اوسئ.]

خو د حاجي صاحبانو په ډله کې به کم داسې وي چې دا لارښوونې په پام کې ولري او خپل حج له ډاکې څخه وژغوري د حاجیانو د دې حالت په لیدلو سره سړي ته دومره تلکیف رسیږي چې بیان او اظهار ته یې ور الفاظ نه موندل کیږي.

همداسې د حج په سفر کې د میرمنو بېحجابي هم عامه وي، ډیري میرمنې له سړیو سره د سفر په مهال، لوڅې تر ستر ګو کیږي. غضب خو لا دا دی چې ډیري میرمنې پرته له شرعي محرم څخه د حج په سفر ځي، په دروغو څوک محرم ولیکي. له دې څخه چې کوم خباثت پیدا کیږي (اګر ګویم زبان بسوزد.) ورباندې رښتوني کیږي.

تر هغه ځایه چې د دې لارښوونې اړه ده چې د حج په دوران کې به جنګ او جدل نه وي. د دې منشاء داده چې د حج په سفر کې، ګڼه ګوڼه زیاته او سفر هم اوږد وي. له همدې امله د سفر په موده کې دیوه او بل ترمنځ ناخوښه شیان پېښیږي او ورپسې د جذباتو تصادم یقیني وي. په سفر کې د ناخوښیو زغمل، د خلکو په تکلیف رسولو نه په قهر کیدل، بلکې له تحمل څخه کار اخستل، د دې سفر ستر کرامت دی. د دې ستونزو د حل غوره لاره داده چې هر حاجي د خپلو ملګرو د جذباتو خیال وساتي، د هغوی درناوې وکړي. د خپل زړه
نښنه و ته ... [illegible]

پېښېږي ،په غوږيدلي تنده او لراخه سينه يي وزغمي.
په خپله داهڅه وکړي چې چاته څه تکليف ونه رسوي.
له نورو څخه ورته تکليف ورسيږي، څه عکس العمل
ښيې. دنورو په وړاندې دخپلو جذباتو قربانې په دې
کې ستره ډالۍ ده او ددې نيک مرغي ترلاسه کولو لپار
ډيري مجاهدې او رياضت ګاللو اړتيا ده. داچې داسفر
حقيقي محبوب په لاره کې وتل دي، نو ددې سفرهره شي
ارزښتناکه ده او شيطان هڅه کوي ترڅو ستاسو وخت ضا
کړي.
څرنګه چې دحج دسفر دسامان او لوازمو دچمتو کو
اهتمام کيږي، تر دې زيات دحج داحکامو او مسائلو دز
کولو اهتمام ضروري دی. که ترسفر وړاندې همداسې مو
ونه موندله شي، لږترلږه دسفر په دروان کې يې اهتمام وش
په هره موقع کې له کوم عالم څخه پوښتنه کيږي او په هغ
عمل وشي. په دې مبارک سفر کې له ټولو ګناهونو څخه ځ
وژغورل شي. دټول عمر لپاره له ګناه څخه دځان ساتلو ع
او هوډ وکړل شي او په دې هکله له الله تعالی څخه خاص د
وغوښتله شي. داخبره په ياد وساتله شي: دمقبول د
علامه داده چې تر حج وروسته دانسان په ژوند کې بدلو
راځي. څوک چې تر حج وروسته هم فرائض پريږدي
دناجائزه کارونو مرتکب کيږي، دهغه حج قبول شوی نه د

ډیر وخت په حرم شریف کې تیر شي ، له ډیري اړتیا پرته په بازارونو کې هیڅ ونه ګرځي .ددینا سامان ګرانه یا ارزانه ، ښه یا بد ، په خپل هیواد کې هم موندل کیږي ،خو دحرم دنیک مرغي دترلاسه کولو موقع بل ځای نه ترلاسه کیږي . هلته داخستلو اهتمام مه کوئ.

داچې په دې حج کې دنړۍ دهرې ګوښې خلک راځي، نو هرڅوک چې هرڅه کوي ، هغوی ته په کتلو کوم عمل پیل نشي. داپلټنه وشې چې آیا داعمل له حنفي مسلک سره سم دی، کنه؟ مثلاً دامسئله :

دسهار له لمانځه وروسته تر اشراق پوري او دمازدیګر تر لمانځه وروسته بیا تر ماښامه پوري، دطواف ددوو رکعتونو اجازه نشته .همداسې په مکروه وختونو کې یې هم اجازه نشته . خو ډیر خلک نور وینې او دالمونځ کوي.

لنډه داچې یوازې خلکو ته په کتلو کوم عمل ونشي. بلکې له علماوو څخه په مسائلو کې پوښتنه او پلټنه وشي.

(آپ کې مسائل اور ان کا حل ج ۴ –معارف القرآن ج ۱ ، معارف الحدیث ج ۴ کتاب الحج ، الترغیب والترهیب ،مظاهر حق علم الفق. ج۱علي المذاهب الاربعه ج ۱ ،کتاب الحج وفضائل حج.)

دحج تر سفر وړاندې ضروري کار

مسئله : دحج سفر په هر اعتبار خورا مبارک سفر دی. په دې مبارک سفر او مبرور حج ، ډيري ستري، ستري وعدې شوي دي. انسان داسي مبارکو او سپيڅلو ځايونو ته ځي چي هلته ددعاوو دقبول وعدې شوې دي. نو تر دې سفر وړاندې له خپلوانو او دوستانو سره ليدل او له يوه بل څخه ددعاوو غوښتل جائز دي. په تيره له هغو کسانو سره چي خبري ورسره بندي وي ، ترمنځ يې ستونزې او کدورت راغلي وي، هغوی ته ورتلل، ورڅخه بخښنه غوښتل او دهغوی زړونه خوشحالول خورا ضروري خبره ده. په دې توګه که دچا حق پاته وي ، په چا تيری شوی وي، پور ورڅخه اخستل شوی وي او يا ورکړل شوی نه وي. دحج تر سفر وړاندې هغه حق ادا کول، يا يې کوم انتظام کول يا ورڅخه وخت اخستل او ځان ډاډمن کول ضروري ده. ترڅو له دې مبارک سفر څخه پوره برکتونه ترلاسه شي. څومره چي په پاک زړه ، د بندګانو دحق په اداء کولو سره ، له ممنوعاتو او مکروهاتو په ځان ساتلو او دټولو آدابو په مراعات کولو سره حرمينو شريفينو ته لاړ شي ، هغومره به انشاء الله ورته ډير برکتونه حاصل شي.

دادحج په فضيلتونو کې ده چي تر هرڅه وړاندې له ګناهونو څخه توبه وکړي، دچا مال يې په تيري اخستی وي،

غه ورته ورکړي ،په چا څه دول تيرى شوى وي، له هغه څخه
خښنه وغواړي، کوم پوريي په ذمه پاته وي ، هغه اداء کړي
ا دورکولويي کوم انتظام وکړي.
علماء ليکي :که په چا باندې ظلم درڅخه شوى وي يا دي
ه ذمه باندې کوم حق وي ، هغه يو پورغوښتونکي دى ، هغه
رته وايي ته چيرته ځي؟ تا په داسي حال کې دکائناتو دپاچا
ه دربارکې دحاضريدلو اراده کړي ده چي، ته دهغه مجرم
ي. دهغه حکم دي ضايع کړى دى ، له حکم څخه دګرځيدلو
ه حال کې هلته حاضريږي. نه ، وويريږه چي هغه به تا رد او
يرته راشاته کړي. که ته دمقبوليت هيله لري ، له دې ظلم
څخه توبه وباسه او بيا حاضر شه. امر منوونکى شه او بيا
ورسه، کنه ستا داسفر به له پيل څخه ستونزمن وي او دپاى
په اعتبار به دمردود کيدلو وړ وي.
(فتاوى رحيميه ج ۱۰ ص ۱۸۰)
همداسي دتللو په مهال،دخپلي سيمي له ملګرو ، عزيزانو
او دوستانو سره ليدل کتل او ورسره خداى په اماني کول . له
هغوى څخه دځان په هکله ددعا غوښته ، دخير سبب ګرځي
مسئله : دحج په سفر تر تللو وړاندې، خپل نيت دخداى
تعالى او دآخرت دثواب لپاره خالص کړئ.
مسئله: دچا که درباندې کوم مالي حق پاته وي او هغه مړ
شوى وي؛ هغه يي وارثانو ته ورکړئ .ياىي له هغوى څخه

بخښنه وغواړئ. که د حق ښښتنان دېر وي، دهغوی ځا
ځایکی معلوم نه وي، نو هغومره شی چي په تا يي پاته،
دهغوی له لوري صدقه کړه. که مو په لاس یا ژبه ورته ض
رسولی وي، دېري دمغفرت دعاوي ورته کوئ. انشاءا
دهغوی دحق دوبال څخه به خلاص شئ.

مسئله : که تر بلوغ وروسته قضا شوي لمنځونه، روژ
او زکات دومره وي چي د حج او عمرې تر سفر وړاندي ي
پوره کولای نشوای، یا دخلکو حقوق دومره دېر وي چ
دهغو تولو بخښنه غوښتل یا اداء کول، داوخت کیدلا
نشي. نو دومره وکړئ چي دهغوی دادا کولو قصد له همد
شیبي څخه وکړئ. څومره چي یي ادا کولای شئ، هغه ا
کړئ او کوم چي پاته کیږي، دهغوی لپاره یو وصیت ولیک
خپل یو دوست یا خپلوان دځان وصي کړئ چي که تاسو
ژوند اداء نه کړای شوای، وروسته به یي هغه اداء کړي.

(احکام حج، مفتي محمد شفیع، ص ۲۳، کتاب الفقه ج۱ ص ۱۴

په حج کې دمېرمنو بې احتیاطي

دبیت الله الحرام حج، دمسلمانانو لپاره ددې فریضي ا
کول د دول، دول برکتونو ذریعه او دعجیبو نعمتونو وس
ده. له دې سره، سره چې پخوانې ستونزې ختمي شوي دي
دېري اسانتیاوي پیدا شوي دي، بیا هم اوږد سفر دی، ؛
لکونو روپې لګیږي، دېرو خلکوته په ژوند کې یو ځل

برخه کيږي. اوس هم ډير مشکلات په وړاندې پراته دي. په دې صورت کې ډيره ضروري ده چې مسلمانان ددې فريضې په اداء کولو کې، خورا احتياط وکړي. د حج له مسائلو څخه پوره معلومات ترلاسه کړي. (دهمدې لپاره په هره ژبه کې واړه او ستر کتابونه چاپ شوي دي.) ترڅو له شرعي احکامو سره برابر سم حج اداء کړای شي. خو دافسوس خبره داده چې د خدای تعالی د مخلوق همدا ګڼه ،ګونه چې دنړۍ له هر ګوټ څخه راځي، ډيريې له فرائضو اوواجباتو څخه غافل دي. ددې نتيجه داکيږي چې د ممنوعاتو ارتکاب کيږي، بلکې له نورو ګناهونو څخه دځان ساتلو اهتمام نه کيږي. دلمونځونو په اداء کولو کې تقصيراو دجماعت په پابندۍ کې بې پروايې کيږي .حال داچې فرض لمونځ هم ترحج په درجو زيات اهميت لري. که له عذر څخه پرته يو لمونځ هم قضاء شي ، دحج دقبليدلو توقع به مشکله وي. په سفرکې په تيره تراحرام تړلو وروسته، دتلبيې ترويلو او تر ذکرکولو په عامه توګه غيبت ډيرکيږي، ښکنځل کيږي، نه ژبه په واک کې وي ، نه سترګې په اختيارکې وي او نه هم لاس په واک کې وي. ډير ليدل کيږي چې په مسجد حرام کې دلمانځه په انتظار ناست وي ، عبث خبري کيږي، په غيبت اخته وي، حال داچې ژوند داسې مرحلې ته رسيدلی وي چې ټول وخت يې په عبادت کې وي، له ګناه څخه پاکيږي، بيرته

داسې کيږي لکه همدا نن چې له موره زيږيدلي او نړۍ ته
راغلي وي.

ځينې کسان په مستحباتو او ادابو کې زياتوالی کوي
په فرائضو او واجباتو کې کوتاهي ترې کيږي. خو اوشا
حجاج داسې ليدل کيږي چې، سړي ته دا اشتباه پيدا کيږ
لکه سيل او تماشا ته چې ولاړ وي.

په ميرمنو باندې حجاب فرض دی خو حرمينو شريفينو
په رسيدلو، ډيرې ميرمنې بلکې ۹۹ په سلو کې با حجا
ميرمن هم حجاب لرې کړي او په دې توګه د کبيره ګن
مرتکبې شي. نه يوازې بې حجابي بلکې کله خولا نيم
لوڅي، د بيت الله شريف طواف کوي. د افسوس خبره دا
چې نه يې ميړه او نه هم محرم يې د بې حجابې د مخ نيو
تدبير کوي. نه د حکومت له لوري ورباندې کوم قيد وي،
پروا د سړيو تر منځ هم هغسې ګرځي. د حجرالاسود
ښکلولو لپاره د خلکو په ګڼه ګونه کې د ننه له بيګانه خلک
سره په قبيح اختلاط کښې وي. دا هرڅه حرام او کبيره ګناه د
دداسې حج چې له پيله تر پايه د محرماتو ارتکاب پکې کيږ
د قبول به يې څه هيله وي. د مبرور حج لپاره بدل جنت دی. خ
مبرور حج څه ډول دی؟ رسول الله صلی الله عليه وسل
د مبرور حج په هکله بيان کړی دی چې حج کوئ او پکې هي
د بې حيايي کار مکوئ، کومه ګناه مکوئ چې له ګناهونو

داسې پاک شې لکه له موره چې نن زېږېدلې ياست.
دپاکستان او هندوستان ځينې ميرمنې دمصر، شام او نورو هيوادونو ميرمنې وينې چې هغوی بې حجابه وي، دوی هم پرده لرې کوي او په حرم کې داسې ګرځي لکه ټول سړي چې يې محرم وي. يا لکه دکور په انګړ کې چې ګرځي. خو داستره بې عقلي ده. که کوم قوم په يوه ګناه اخته وي نو په دې سره خو هغه ګناه نه رواکيږي. نو ودې ګوري چې دهغوی بې حجابي (دمخ لوڅول) په يوه تدبير او وقار سره وي. لباس يې هم له سره تر پښو دپردې وي، په پښو يې موزې وي. خو دپاکستان دميرمنو په تيره دپنجاب او سند دميرمنو لباس خو ډير دبې حيايي لباس وي. ټول بښځينه غړي يې څرګند وي. بې پروا په وتلو سينو ګرځي. په نتيجه کې يې همدا ميرمن دهمدې بې حيايې له امله، په فسق کې اخته وي او ميړونه يې هم ددوی دبې حجابۍ له امله په ګناه لتاړوي، ځکه هغه يې نه منع کوي، نه يې اصلاح کوي او دايوه بې حيايي او بې غيرتي ده.
تر ټولو زيات داچې يوه عامه ابتلاء ده، هغه داده چې ميرمن پنځه وخته په لمانځه کې دسړيو په څير، په حرم کې وي. که څه هم دميرمنو لپاره دروازې يېلې دي، دلمانځه ځايونه يېل دي خو دحج په زمانه کې چې ګڼه ګوڼه ډيره وي. بيل ځای ته رسيدلای نشي، دسړيو تر منځ په صفونو کې دريږي او لسونو کول پيل
کړي

په مسجدحرام او نبوي مسجد کې لمونځ او ميرمنې

لومړی خبره داده، لکه څرنګه چې په خپل هيواد کې د ميرمنو لپاره په خپل کور کې لمونځ کول غوره دي، همداسې په مکه معظمه او مدينه منوره کې هم دميرمنو لپاره په خپلو کورونو کې پرته له جماعت څخه لمونځونه کول غوره دي. په حرمينو کې چې په لمونځ کولو څومره ثواب پيدا کيږي، هغوی ته په خپلو هستوګنځيو کې تر هغه زيات پيدا کيږي، کوم چې سړيو ته رسيږي. نو ميرمنې دي په حرمينو کې هم لمونځونه په کورونو کې کوي.

که چيري کوم وخت دبيت الله شريف دليدلو، يا طواف لپاره، دمسجد حرام يا دصلوة اوسلام ويلو لپاره نبوي مسجد ته راشي او هلته لمونځ په جماعت سره وکړي، صحيح دی. خو په دې شرط چې دسړيو په منځ کې په صف کې ونه دريږي. که کومه ميرمن دسړيو ترمنځ په لمانځه ودريږي، د دودريو تنو لمونځونه خرابيږي، ښې او کيڼ لوری او هغه چې ورپسې ولاړ وي.

که له ارادې پرته کومه ميرمن، دلمانځه په مهال په صفونو کې پاتې شي او تري وتل ورته ستونزمن وي، يا د طواف په مهال لمونځ ودريږي نو بيا دې پټه خوله، له لمانځه پرته چې چيرې وي، هلته دې کښيني. دلمانځه نيت دې نکوي. که يې نيت وکړ دخلکو لمونځ هم خرابيږي. کله چې

امام فارغ شي، بیا دي یوازي لمونځ وکړي.

دطواف لپاره دي هم میرمنې داسې مهال ورشي چې دلمانځه وخت نه وي ، هغه مهال کنه ،کوښه هم نسبتاً کمه وي. که دلمانځه وخت شي او اذان وشي ، ژر، ژر دي طواف پوره کړي ، یا دې طواف پرېږدي .څومره شوطونه چې پاته دي ،تر لمانځه وروسته دي بشپړ کړي یا دي بیا طواف وکړي.

په هر حال، له ګناه څخه ځان ساتل خورا ضروري دي، ډیري غلطي کیږي، خو دلمانځه او بي حجابې مسئله زما په اټکل تر ټولو مهمه ده.

حج داسې یوه فریضه ده چې په ژوند کې یې بیا ،بیا اداء کول مشکل دي، نو داضرور ده چې سړي او میرمنې یې په خورا احتیاط سره ادا کړي.

ځینې میرمنې په خپل هیواد کې هم حجاب نه مراعات کوي .ګواکې بې پردې او سیږي، په دې کي شک نشته چې داستره ګناه ده او دیوې فریضې خلاف کار دی .خو هغوی ته هم لازمه ده چې د حج په سفر کې له دې ګناه څخه ځان وساتې، تر څو دا فریضه خورا سمه اداء شي.

نن سبا ،ډیري میرمنې له محرم څخه پرته سفر کوي او دا کار هم حرام او ګناه ده .د کومې میرمنې چې محرم نه وي، حج وربانديې فرض نه دی. که یې محرم ؤ خو د حج وس یې نه درلود، یایې دې میرمنې ...... [illegible]

وربانديې حج فرض نه دی.

دافسوس ځای دادی چې حج هم وربانديې فرض نه وي، بیا هلته لاړه شي، په حج کې دومره څه هم پرېږدي .چې حج وربانديې فرض نه وي، بیا دا د حج سفر ولي کوي.

دبیت الله په حج کې، که حاجیان داسې غلطي کوي او دشریعت خلاف حرکات ورڅخه لیدل کیږي، نو له دې امله دحج برکتونه ختمیږي، دحجاجو له ډیروالي سره ،سره امت داسې ځای ته رسیږي چې ورځ په ورځ دتنزل لورته روان وي.که دومره ډیرحجاج په سمه طریقه سره حج وکړي او زموږ ټولو حج په سپیځلي دربارکې په قبول سره مشرف شي، بنایې دنړۍ نقشه بدله شي. خدای جل جلاله دې مسلمانانو ته صحیح فکر کول او توفیق ورپه برخه کړي. آمین.

(محدث عصرحضرت علامه محمدیوسف بنوري نورالله مرقده.)

(له ندای شاهي دسمبر۲۰۰۴ په مننه.)

دمیرمنو لپاره په حج کې دمحرم شرط ولي شته ؟

مسئله :زه شرعي مسئله وایم دولي ځواب نه ورکوم ،خو تاسو ته په ډاډ سره لیکم چې،دمیرمنو لپاره ددریو ورځو یا زیات سفرله محرم پرته،رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړی ده . دلته په داسې اوږده سفرکې دهغې دعزت او عصمت ساتل یوه مستقله مسئله ده . زما په پوهه ځینې میرمنې پرته له محرم څخه سفرکوي ، په ناولتیاکې پرېږي او

بیرته راځي. له دې سره، سره په داسې اوږده سفر کې څه پیښې رامنځته کیږي، میرمنې ته دناستې ولاړې ضرورت پیښیږي. که کوم محرم ورسره نه وي، مشکلات ورته مخته کیږي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۸۰)

خبرتیا: دخدای جل جلاله قانون یوازې په خپله رایه سمول، یوازې یوه لوري ته یې نظرکول او له نورو خواوو څخه یې سترګې پټول، هوښیاري نه ده. (پرته له محرم څخه حج ته تلل) دافسوس خبره ده چې نن داکار عام شوی دی.
(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۸۳)

محرم چاته ویل کیږي؟

پوښتنه: سړی او میرمن یې حج ته ځي، له هغوی سره دمیرمنې خورزه، وریره یاد میرمنې سکه خور ورسره تلای شي، کنه؟

ځواب: محرم هغه دی چې کله هم ورسره نکاح کیدلای نشي، دمیرمنې خور، خورزه، وریره یې دمیړه لپاره نامحرم دي، له هغه سره تلل یې جواز نلري. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۷۹)

مسئله: دوالدینو فروع، یعنې هغه سړی یا میرمن چې د موریا پلار (مستقیم یا غیر مستقیم) اولاد وي، لکه ورور، خور، وراره، وریره، خوریي، خورزه یا دهغوی اولاد تر هر ځایه چې کښته وي تول حرام دي.
(فتـاوی رحیمیـه ج ۸ ص ۲۰۸ .. فتـاوی عـالمیکیري اردو ج ۲ ص ۵ وکتاب النکاح)

مسئله :دپلار مشر وررو ، کاکا اونور محرم دي .
(فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۱۷۳)

مسئله :له محرم څخه مقصد هغه شخص دی چي له هغه سره نکاح کول حرام وي ،که هغه دنسب له امله وي که د کوزدې یا شیدو له امله .د محرم لپاره عقل اوبلوغ هم شرط دي.
(کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۳٦ ،فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۱۷۳ ،معلم الحجاج ص ۸۴)

مسئله :د میرمنې لپاره یې دوراره زوی محرم دی. ځکه دهغوی ترمنځ چې نکاح حرامه وي، هغه دهغه لپاره محرم دی. میرمن دخپل وراره له زوی سره حج ته تللای شي. خو ورسره دا احتیاط لازم دی چې هغه فاسق اوفاجر نه وي ، په فاسق او فاجر دا ډ نه وي.فقهاوو ورسره سفر منع کړی دی.
(فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۸۹ د شامي ج ۱ ص ۵۲۹ په حواله)

مسئله :له محرم سره هم هغه مهال سفر کول جایز دي چي دفتنې او شهوت ویره نه وي. که غالب ګمان داوې چي دسفر په مهال، که په یوازیتوب یاد ضرورت له امله په لاس ورو ړلو کې شهوت پیدا کیده ، ورسره سفر جواز نلري.
(معلم الحجاج –ص ۹۷)

مسئله :زوم (دسکنۍ لورمیړه) دخپلې خوابنې محرم دی، له هغې سره دتل لپاره نکاح کول حرام دي.نو له زوم سره میرمن حج ته تلای شي.(فتاوی رحیمیه ج۸ ص۲۸۸ د طحطاوي ص۳۹۷ په حواله)

مسئله :دبنې زوم له ناسکه خوابنې سره محرم نه دی، سفرورسره کولای نشي . ځکه د خوابنې بن (ناسکه خوابنې)

دزوم محرم نه ده. (فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۳۰۸)
مسئله :نن سبا دفتنې زمانه ده .د خسرګنۍ په تعلق کې احتیاط ته اړتیا ده. په تیره کله چې ځوانان وي ، په معلم الحجاج کې دي چې په دې زمانه کې د خسرګنۍ او دشیدو له تعلق سره چې محرم وي، په سفرکولو کې ورسره احتیاط ته اړتیا ده. داچې دفتنې زمانه ده، نوله داسې خلکو سره دې حج نه کوي. (فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۲۸۸ دشامې ج ۱ ص ۵۲۹ په حواله، معلم الحجاج ص ۹۵)
مسئله :میرمن له خپلې سکنې خورېي سره حج کولای شي، خو دمېړه له خورېي سره یې کولای نشي. ځکه دمیرمن لپاره دمېړه خورېي محرم نه دی. (فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۳۰۷)
مسئله :له خنثی مشکل (هغه چې جنس یې معلوم نه وي چې نردی او که ښځه) سره هم محرم شرط دی. (معلم الحجاج ص ۵۵)
مسئله :په هوایې سفرکې چې څوساعته دی، هم دمیرمنې لپاره محرم درلودل شرط دي. ځکه په (۴۸) میله کې دسفر احکام لکه په لمانځه کې قصر، جاري کیږي.
(فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۲۱۴)

له اخښې سره حج کول

مسئله :له اخښې (دخور مېړه) سره سفر کول شرعاً صحیح نه دی.
مسئله :محرم هغه څوک دی چې له هغه سره هیڅ وخت

نکاح جواز نلري، خو ښینه محرم نه ده ، ځکه که دحج په موده کې سړی ،میرمنې ته طلاق ورکړي (عدت يې تيرشي) يا يې میرمن مړه شي، نو له خوښینې سره نکاح کولای شي .له نامحرم سره په ييولو حاجې ګنهګاريږي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۸۴)

له ورور بللي سره حج کول

پوښتنه : يوهلک يې وروروباله او ورسره حج يې وکړ. ايا هغه يې محرم دی .آيا نكاح ورسره جائزه ده ؟

ځواب: کوم پردی شخص په ورور بللو سره نه محرم کيږي.نو نکاح ورسره صحيح ده.میرمنې ته له محرم څخه پرته سفرکول ګناه ده.حج خو کيږي خو میرمن ګناه کاره ده. په خوله څوک ورور بلل محرم نه دی او هغه محرم ښودل غلط ويل دي.(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۷۹۸)

دمیره له سکني کاکا یا نورو سره حج کول

مسئله: که کومې میرمنې، دمیړه له کاکا سره نورقرابت نه درلود، دا دواړه په خپل منځ کې نامحرم دي او دمیړه له حقیقي کاکا سره دهغې حج ته تګ جائز نه دی.

مسئله :دمیرمنې دمیړه مشر ورور، نامحرم دی، له نامحرم سره په سفر تلل جواز نلري.

مسئله :دمیرمنې دمیړه کشر ورور محرم نه دی، له محرم پرته حج يا عمري ته تلل جواز نلري .

مسئله :میرمن دتې خوړلو له ورور سره حج ته تللای شي

ځکه هغه محرم دی. (فتاوی محمودیه ج۳ص۱۸۹)

مسئله: میرمن ته دلورله خسر سره حج ته تلل جواز نلري ځکه نامحرم دی.

مسئله: مامې (دماما ښځه) شرعاً محرمه نه ده، نو هغه دمیړه له سکني خوریي سره حج ته تلای نشي.

مسئله: میرمن له بلي داسې میرمنې سره چې له خپل میړه سره وي یا له داسي میرمني سره حج ته تلل جائز نه دي چې له هغې سره خپل محرم وي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص۸٦)

مسئله: دمیرمنې دحج سفر له زاړه غیر محرم شخص سره جواز نلري. (فتاوی دارالعلوم ج٦ ص ۵۴۰ دبحر الرائق ج ۸ ص۳۸ په حواله)

مسئله: دمیرمنې لپاره دیور یا جیت (دمیړه مشر او کشر ورور) محرم نه دی. (فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۳۰۷)

سفر له محرم څخه پرته، خو حج له محرم سره

پوښتنه: که کومه میرمن حج ته بې محرمه لاړه شي خو په هیواد او جده کې په هوائې ډګر یي ورور موجود وُ نو دداسې میرمنې لپاره حکم څه دی؟

ځواب: له هیواد څخه تر جدې پوري په الوتکه کې یوازې سفر کولو ګناه وربانده شته، حج او عمره یې کیږي خو په لوتکه کې یې یوازې سفر کول جواز نلري. (آپ کې مسائل ج۴ ص۸۰)

****

دحج کولو لپاره غیر محرم ، محرم کول

پوښتنه : کومې میرمنې چې غیر محرم،محرم وګڼي دحج په سفر لاړه شي، حکم يې څه دی؟

ځواب : له محرم پرته دحج سفر جايز نه دی ، نامحرم محرم بلل او دحج سفر ورسره کول، دوې ګناوې دي . خو که لاړه شي حج کیږي.دیوازې سفر کولو ګناه ورباندې شته.

(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۸۲

مسئله :میرمن چې هرڅومره زړه وي،له محرم پرته يې حج سفر حرام دی .که نوري میرمنې له خپلو مخارمو سره ورسره وي هم جواز نلري. که دمړینې ترمهاله يې محرم ونه موند نو د (حج بدل) وصیت ورباندې فرض دی.

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۲۳

له محرم څخه پرته دزړې میرمنې حج کول

مسئله :میرمنې ته له محرم څخه پرته دحج سفر جواز نلري اګر که حج يې کیږي، خو ددې یوازې سفر کولو ګناه بیله ورباند پاته کیږي. خو داچې دزړې میرمنې سفر ډیر د فتنې سبب ګرځي،له دې امله ممکن الله تعالی ورباندې مهرباني وکړي ، د ددې سفر دي، الله تعالی ته استغفار وايي . پاته دا خبره ده چې زرګونو میرمنې محرم نلري آیا هغوی به حج نکوي؟

ددې ځواب دادی چې،ترڅو ورته محرم ونه موندل شي میرمن باندې حج فرض نه دی.نو حج دې نه کوي،که دحج شوق لري او محرم نه موندل کیږي،دو همه نکاح دي وکړي.

(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۷۴ – فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۳۰۷ ،کفایت المفتي ج ۴ ص

خپل ملازم محرم کول

پوښتنه : زه د خپلو مصروفياتو له امله، حج ته تلای نشم. آيا زه خپل نوکر، د محرم په توګه له خپلې ميرمنې سره حج ته استولای شم؟

ځواب :محرم داسې چاته ويل کيږي چې، دهغه دتعلق له امله ورسره نکاح کيدلای نشي. لکه دميرمنې پلار ،ورور ،وراره ،خوريي. دکورنوکر محرم نه دی اوله محرم څخه پرته حج ته تلل جايز نه دي. تاسو په خپله هم ګناه کارکيږي، ستاسو ميرمن او ملازم هم .(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۸٦)

ځان دبل ميرمن ښودل او حج کول

پوښتنه :زما نوم محمد اکرم دی ، زما ديوه دوست نوم محمد اشرف دی . اوس زما دوست له خپل کفيل سره جنګ کړی دی، هغه خپله ميرمن حج ته غوښتې ده ،هغه زما په نوم خپله ميرمن حج ته راغوښتې ده .يعنې دهغې په نکاح نامې کې يي زما نوم ليکلی دی.په کاغذي معاملوکې يې هغه زما ميرمن ښودلي ده.دلته راغله ، زه يې دراوستلو لپاره هوائې ډګرته ورغلم .دامنيت مسؤلينو زمااقامه وکتله هغه يې زما دميرمنې په صفت رابهرکړه ،ميرمن اوس له اصل خاوندسره ده ،حج يې هم له هغه سره وکړآيا داحج صحيح دی؟

ځواب : ددې محترمې حج خو اداء شو، خو دجعل کاري په ګناه کې درې واړه شريک ياست. هغه سړی او ميرمن هم او تاسو هم .(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۸۴)

کونډه او عدت لرونکې میرمن څرنګه حج وکړي؟

مسئله: که د کومې میرمنې میړه داسې مهال وفات شي چې د حج تر وخته عدت نه پوره کیده، نو دامیرمن دي د عدت تر پوره کولو د حج په سفر نه ځي. (آپ کې مسائل ج ۲ ص ۳۲ فتاوی دارالعلوم ج ٦ ص ۵۲۵ ردالمحتار ج ۲ ص ۱۹۸ په حواله فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۲۲۷)

مسئله: که کومه میرمن د عدت په موده کې حج وکړي، حج یې کیږي خو ګنه کاره ده. (معلم الحجاج ص ۸٦)

مسئله: د عدت په موده کې حج ته دمیرمنې تلل ناجائز دي، د عدت تر تیریدلو وروسته، که له محرم سره ځي تلای شي، که یې محرم ونه موند د حج بدل وصیت دي وکړي.
(فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۳۰۷)

دحاملې میرمنې حج

پوښتنه: ایا حامله میرمن حج کولای شي؟ که یې کولای شې نو هغه ماشوم چې یې په ګیډه کې دی، د هغه هم حج کیږي؟

ځواب: حامله میرمن هم حج کولای شي، په ګیډه کې د ماشوم حج نه کیږي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۳۴)

که میرمن له متبنې سره حج ته لاړه شي

مسئله: حج ته دمیرمنې تلل له داسې چا سره چې زوی یې بللی دی، جایز نه دي. له ګاونډیو میرمنو سره یې هم تلل ناجایز دي. که یې محرم ونه موند حج بدل دې وکړي، خو حج بدل به داسې وخت کوي چې دا شرط پوره وي چې ټول عمر

يې محرم نه مونډل کیږي. خو که کوم وخت محرم پيدا سو مثلاً ،نکاح يې وکړه او میړه يې هم حج ته په تللو راضي شو اود امهال هم دمیرمنې او د محرم د حج مصرف ورسره وي ،بیا به حج کوي. (امدادالاحکام ج ۲ ص ۱۵۷)
مسئله: که کومه میرمن له وړکتوب څخه یوماشوم وروزي او زوی يې وګڼي،ماشوم هغه مور او دا هغه زوی وبولي، د حج په سفر کې همدا هلک د دې میرمنې لپاره محرم نه دی. له هغه سره حج یا عمرې ته تلل يې جواز نلري. ځکه متبنی (زوی بلل شوی) حقیقي زوی نه دی. د قرآن کریم د احزاب په سورة کې يې تفصیل موجود دی. (آپ کې مسائل ج ۸ ص ۳۱۸)
دحج په سفر یوازې دمیرمنو دکاروان حکم
مسئله :په فطرې او قدرتي ډول ، دسړي ښځې او دښځې سړي ته رغبت وي او شیطان هم په ګناه کې داخته کولو هڅه کوي. په مشکوة شریف ص ۲٦۷ کې حدیث شریف راځي:
{دسړيو په هکله تر ښځو ډیر ضرر رسونکې بله فتنه نشته .}
ددین په ضروریاتو کې یو هم حج دی. په دې کې شرعي ضوابط او له فساد څخه د خوندیتوب ډیر احتیاطي تدبیرونه ښودل شوي دي چې دادي :په سفر کې به میرمن له محرم یا میړه سره وي چې، دهغې بشپړ حفاظت وکړل سي، کنه د حج دسفر هم ورته اجازه نشته .که له محرم څخه پرته لاړه شي، نو دشرعي حکم دخلاف ورزي له امله ګناه کاره کیږي . څو مره

چې دميرمنې عصمت او ناموس ساتنه ميړه او محرم کولای شي، هغو مره يې نوري ميرمنې کولای نشي. بلکې په خپل هغه ميرمنې هم دحفاظت لپاره نورو ته اړتيا لري. دميرمنې لپاره دمحرم شرط له حج څخه دهغې دبي برخي کولو لپاره ن دی، بلکې ددي لپاره دی چې دهغې عصمت او ناموس خوندي وي، له بدګمانۍ او تور څخه ژغورلي وي، ځکه ل دې څخه پرته ميرمن کوم ارزښت نلري. نو ميرمنو ته ضروري ده چې دشرعي احکامو درناوی وکړي، شريعت خپل محسن وګڼي.

چيري چې دحج معامله ده، که ورته محرم ونه موندل شي نو شريعت ورته دحج بدل اجازه ورکړي ده چې په هغه سره دا دپوره ثواب مستحقه هم ګرځي او دشرعې حکم دتابعداري له امله يې ستر اجر په برخه کيږي. (فتاوی رحيميه ج ۸ ص ۳۲۱، دبخاري ج ۱ ص ۴۴۱ پ حواله، ابن ماجه ج ۱ ص ۲۹۷ – هدايه ج ۱ ص ۱۱۳)

دحجاجو درخصتولو لپاره دميرمنو ورتګ

مسئله: ځيني ځايونه داسې رواج وي چې کله حجاج حج ته ځي نو تر تم ځای پوري دهغه درخصتولو لپاره ميرمنې هم ځي، هلته دنرو او ښځو اختلاط راځي، بې حجابي وي. دا رواج بد او ډيرو بديو تولګه ده. نو ډېرېښودلو وړ ده. خلکو دحج په نوم دښځو ټولنه او اختلاط او نور ډير بد او مکروه رسمونه را منځته کړي دي چې، دثواب په ځای ورته دلعنت سبب ګرځي. له دې امله دا رواج بايد بالکل بند کړل شي.

(فتاوی رحيميه ج ٦ ص ۴۰۴ فتاوی محموديه ج ۳ ص ۲۰۲)

دميرمنې نرۍ ټکري په سر کول او حرم ته تلل

مسئله : دميرمنې لپاره په داسې لباس کې بهر وتل حرام دي چې بدن يې ترې ښکاره او يا يې د سرو ېښتان ور ځخه وليدل شي.

مسئله : په داسې نري ټکري کې لمونځ هم نه کيږي چې وېښتان يې ترې ښکاره کيږي.

مسئله : مکې مکرمې او مدنې منورې ته چې ميرمنې لاړې شي په مسجد کې په جماعت سره لمونځونه کوي او په نبوي مسجد کې د څلوېښتو لمنځونو پوره کول ضروري ګڼي. خو دا مسئله په ياد ولرئ چې په حرمينو کې د جماعت دلمانځه ثواب يوازې د سړيو لپاره دی. ميرمنو ته هلته هم په خپل هستوګن ځای کې لمونځ کول غوره دي.

لږ غور وکړئ ، کله چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په خپله لمونځ ورکاوو ، هغه مهال يې هم وويل: [دميرمنو په کور کې لمونځ کول په مسجد کې د جماعت تر لمانځه ورته غوره دی.}

په هغه لمانځه کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم امام او صحابهٔ کرام مقتديان وي، په داسې لمانځه کې تر جماعت هم ميرمنو ته په کور کې لمونځ کول غوره او افضل دی. نو نن به د جماعت لمونځ ميرمنو ته څرنګه افضل وي ؟

لنډه دا چې ميرمنې مکې او مدينې ته لاړې شي، هغوی ته په خپلو هستوګنځايونو کې لمونځ کول مناسب دي.

همدلته لمونځ په حرمينو کې ترلمونځ کولو غوره دی. حرم شریف ته دطواف لپاره راځي ،خو دخلکو دازدحام په مهال کې دي دورننوتلو اودحجرالاسود دښکلولو هڅه نکوي، کنه ګناه کاره کیږي . نیکې برباد ګناه لازم خبره به وربانده رېښتونې شي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص۱۱۹)

دحج په مبارک سفر کي دمیرمنو لپاره پرده

پوښتنه : دحج په موقع ، که میرمنو ته وويل شي چې پرده وکړي .په ځواب کې وايي چې، په دې مبارک سفر کي پردې ته څه اړتیا نشته او مجبوري هم ده ، نو دپردې حکم څه دی ؟

ځواب : داحرام په مهال، میرمنو ته ویل کیږي چې په پرده دې مخ ونه پوښي. خو ترکومه حده چې ورته شوني وي له نامحرم څخه دي پرده کوي اوکله چې احرام نه وي، نو دمخ پټول ضروري دي.داغلطه خبره ده چې په مکه مکرمه یاد حج په سفرکې پرده ضرورنه ده.(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۲۲۵،کتاب الفقه ج۱ ص۱۵۴)

ایا نجلۍ تر واده وړاندي حج کولای شي ؟

پوښتنه : دیوې نجلۍ نکاح شوې ده.خو واده شوی نه ده. دواړه لوري غواړي په دوو کلونو کې واده وشي .هلک غواړي په سعودي کي دهستوګنې په مهال تر واده وړاندي په همدې نجلۍ حج وکړي . ایا تر واده وړاندې له هلک سره دنجلۍ حج ته تلل صحیح دي ؟

ځواب : دحج په کولو یې دواړه کارونه کیږي، واده هم او

حج هم .کله چې نکاح وشي،نو هغه دواړه سره میړه او ښځه دي.که واده شوی وي او که شوی نه وي.(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۱۵۶)
مسئله :که دحج لپاره تیاري کول ښځې شوي وي او د نجلۍ کوزده وشي، نو نجلۍ له مور،پلار (یابل محرم) سره حج ته تلای شي. (آپ کې مسائل ج ۴ص ۳۲)
پر میرمن دحج فرضیت
پوښتنه :آیاحج په سړیو فرض دی که په میرمنو هم دی؟
ځواب : په میرمن هم فرض دی خو چې محرم ولري. که محرم ونه موندل شي ، تر مړینې وړاندې دې دحج بدل وصیت وکړي.(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۳۳)
مسئله :دفرض حج لپاره میرمنې ته له میړه ځخه (چې کوم محرم ورسره ځي) او لور ته له پلار ځخه داجازې اخستلو ضرورت نشته. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۳۶ فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۵۲۸ درد المحتار ج ۱ ص ۲۰۰ په حواله کتاب الفقه ج ۱ ص ۲۱)
مسئله : په میرمن هغه مهال حج فرض کیږي چې دومره شتمنې ولري چې ددې او دمحرم دتللو لګښت پوره کړي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۱ ص ۵۲۲ دعالمګیري ج ۱ ص ۲۰۲ په حواله)
مسئله :کومې میرمنې ته که میړه یا زوی پیسې ورکړي هغه یې مالکه ده . که هغه روپۍ دحج لپاره بس وي او دمحرم خرڅ یې هم پوره کولای شوای نو په دې میرمن باندې حج فرض دی . له خپل محرم سره دې حج ته لاړه شي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۵۲۱ دهدایة کتاب الحج ج ۱ ص ۲۱۵ په حواله)

که له میرمنې سره یې دمحرم مصرف نهٔ

مسئله :که له میرمنې سره دحج دضرورت په اندازه څه و، خود محرم دا نهٔ او یا ځ، خو مصرف یې په غاړه نه اخیست او له میرمنې سره دومره مال دولت نه و چې دځان او محرم دواړو لګښت پوره کړي ،نو په دې میرمن لازم دی ترڅو له خپل لوري حج بدل وکړي یا وصیت وکړي چې زما تر مړینې وروسته زما په دولت حج بدل وکړئ.

(احکام حج ص۱۸۸–امداد الفتاوی ج۲ ص۱۵٦)

میرمنو ته ځانګړې لارښوونې

په لاندې یادو شویو مسائلو کې دمیرمنو حکم له سړیو څخه بالکل بیل دی :

۱–دمیرمنو احرام دومره دی چې خپل سرپټ کړي او مخ یې لوڅ وي.

۲–ګنډلي جامې دمیرمنو لپاره منع نه دي .

۳–میرمنې به تلبیه په ټیټ اواز وایي.

۴–دناپاکې یعني حیض او نفاس په حالت کې به دعا او تلبیه وایې، احرام به تړي خو لمونځ به نکوي .

۵–دسرو ویښتان دې په یوه ټوټه جامه وتړي ترڅو کوم ویښته غوڅ او ونه لویږي. داجامه (دسمال) یوازې داحتیاط لپاره وي (ځیني خلک یې دمیرمنې احرام ګڼي ، خو دا سمه نه ده.)

۷- داحرام د خلاصولو په مهال، دوینښتانو سرونه دګوتې دویوه بند په اندازه غوڅول کافي دي.
۸- دناپاکۍ په حالت کې له طواف څخه پرته، دحج هر رکن اداء کولای شي.
۹- دنحر (لسم ،یوولسم او دوولسم تاریخ) په ورځو کې که پاکې نه وي، دزیارت طواف تر پاکیدلو پورې ځنډول کومه جریمه او سزا نلري.
۱۰- جدې یا مکې معظمې ته په رسیدلو، که یې میړه یا محرم مړ شي یا طلاقه شي، په داسې حالت کې دحج ارکان اداء کولای شي.
۱۱- که میرمنې ته دبیرته تګ په مهال ناپاکي (حیض یانفاس) پیښ شي، نو دوداع طواف ورته معاف دی.
۱۲- اضطباع یعنې څادر تر ښې اوږې لاندې کول او په کینه اوږه اچول دمیرمنو لپاره نشته.
۱۳- میرمنې دې دومره لاس نه لوړوي چې بغل یې ښکاره شي.
۱۴- رمل (پهلواني) یعنې دطواف دپیل په دري ځل ګرځیدلو کې قدمونه نژدې ښودل او ګړندي تلل دمیرمنو لپاره سنت نه دي، هغوی دې په خپل حال ځي. (محمدرفعت قاسمي)

مسئله : دمیرمنو احرام او حج هم دسړو په شیر دی، توپیر
يي دادی چې میرمنې ګنډلي جامي اغوستلای شي، سر
پټولای شي خو مخ به يې لوڅ وي.

مسئله : دمیرمنو لپاره دموزو په پښو کول او دستکلي په
لاس کول جایز دي، نه پښو کول يې غوره دي او ګینه هم
استعمالولای شي.(معلم الحجاج ص ۱۱۰)

مسئله : میرمنې د حیض او نفاس په حال کې هم احرام
تړلای شي خو د احرام دوه رکعته نفل کولای نشي.
(احکام حج ص ۳۴ مفتي شفیع صاحب)

مسئله : داچې د حیض او نفاس په وخت کې میرمنو ته
لمونځ کول جواز نلري، نو غسل او اودس دي کوي، مخ په
قبله دي کښیني نیت دي کوي او تلبیه دي وایي، لمونځ دي
نکوي .(معلم الحجاج ص۱۰٦)

مسئله : میرمنو ته سرپټول واجب دي او په مخ جامه اچول
منع دي، په سر به جامه داسې اچوی چې مخ يې پټ نشي او
ګنډل شوي جامي اغوستل جواز لري.

مسئله : میرمنې ته مناسب ده ترخو يو دستمال په سر
وتړي چې سرلوڅ نشي. دادستمال د ستر دوجوب لپاره دی
يعنې دسر دپټولو لپاره، داحرام لپاره نه دی. ځکه دمیرمنې
دادستمال داحرام جزنه دی، نو که سرلوڅ شي جنایت نه دی

دم یا بل څه نه اوري . دپردي شخص په وړاندي دادستمال لرل واجب دي او سر لوڅول ګناه ده.

مسئله : دمیرمنې لپاره دستمال په احرام کې داخل نه دی. که یې دغسل یا په اوداسه کې دمسح لپاره خلاص کړي ، نودجنایت څه نه لازمیږي ، داددې لپاره هم دی چې ویښتان یې له توئیدلو وساتي .

مسئله : میرمنې ته دحیض او نفاس په حال کې دحج ټول افعال جایز دی. یوازې طواف اولمونځ کول منع دي. که تر احرام وړاندې حیض راشي غسل دي وکړي ،احرام دې وتړي ټول نورافعال دي وکړي خو سعی،طواف اولمونځ دي نه کوي.

مسئله :دمیرمنې لپاره تلبیه په زوره ویل منع دي. په دومره غږ دې وایئ چې په خپله يې واوري. (معلم الحجاج ص ۱۱۵)

مسئله :دخنثی مشکل یعنې هغه چاچې نه معلومیږي چې نر دی که ښځه ،ټول احکام یې دمیرمنې په څیر دي. دهغه له پردي سړي یا میرمنې سره یوازې اوسیدل جایز نه دي. (معلم الحجاج ص ۲۲۹)

مسئله :میرمن که داحرام په حالت کې په ورغوي نکریځي ووهي، دم ورباندې واجبیږي . (معلم الحجاج ص ۲۲۹)

مسئله : که یې داحرام په حالت کې دودی پخوله او کوم ویښته یې وسوزي ، صدقه د... ...

ولـويږي يـا پـه خـوب کـې وسـوزي څـه شـې نـه وربانـدې واجبيږي. (معلم الحجاج ص۲۳۹)

مسئله : ميرمنو تـه داحرام تړلـو لپـاره کـوم خـاص ډول جامې اغوستل لازم نه دي ، له همدې امله دې ميرمنې ګنډل شوي جامې اغوندي، که هر رنګ وي ، دهغې احرام دادی چې مخ لوڅ پريږدي او په لاسونو باندې دستکلې نه کول غوره دي . خو که غير محرم سړي وي،مخ پـه څـه شي سره پټولای هم شي او په کومه جامه لاسونه هم پټولای شي.
(آپ کې مسائل ص۸۹)

مسئله : دميرمنې لپاره داغوره دي چې داحرام پـه حالت کې موزې په پښو کړي. ځکه په هغوی کې پرده ډيره ده ، خو که يې جامې اوږدې او ټول بدن يې پټ کړی وُ نو همداسې جامې کافي دي.

مسئله : کـه ميرمنـې داحـرام پـه وخـت کـې مـوزې پـه پښو کړي وروسته يې لرې کړي، پروا نلري.دا داسې ده لکه سړی چې داحرام په مهال څپلکې په پښو کړي او بيرته يې لرې کړي او څه ستونزه نلري .(حج بيت الله کي اهم فتاوی ص ۲۴)

مسئله : داحرام لپاره غسل کول مؤکد سنت دی. که يوازې اودس وکړي، دغسل ځای نيسي .خوغسل کول غوره دي،داغسل دنظافت او پاکې لپاره دی.خودمعذور دغسل ځای نه نيسي.نو حيض اونفاس په حال کې دي هم غسل کوي.

مسئله : كه اوبه نه وي، غسل ساقطيږي. خو په بدل كې يې تيمم مشروع شوي نه دى. ځكه هغه پاكې چې په دي غسل كې مقصد ده، په تيمم نه ترلاسه كيږي.(كتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۴۸)
مسئله : داحرام په حالت كې نكاح كول جايز دي، ځكه داحرام ترل دميرمنې دنكاح مخ نيوى نه كوي. خو نژدې والى منع دى.(كتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۵۳)
مسئله : داحرام په حالت كې دنژديوالي په څير، هغه حركات همه حرام دي چې همدا خواهش اوغوښتنه زياتوي ،لكه ښكلول ،بدن له بدن سره مښل . (كتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۵۳)
ايا ميرمنې په احرام كې مخ لوڅ پريږدي ؟
مسئله : دا سمه ده چې داحرام په حالت كې دمخ پټول جواز نلري . خو ددې معنى دانده چې ميرمن داحرام په حال كې پرده پريږدي. بلكې تر كومه حده چې شونې وي پرده ضروري ده .يا په سركومه ټوپۍ كښيږدي يا ورباندې څادر داسې واچوي چې مخ پټ نكړي يا ميرمن په خپل لاس كې دلاس پكه يا بل څه ولري .دخلكو په وړاندې يې مخته ونيسي .په دې كې شك نشته چې دحج په اوږده اوبا ازدحامه سفر كې، دميرمنې لپاره دپردې قيد مشكل دى خو تر هغه چې كيدلاى شي دپردې اهتمام ضروري دى، هغه چې تروس وتلى وي الله تعالى دې معاف كړي.(آپ كې مسائل ج ۴ ص ۸۸)
مسئله : كه داحرام په حالت كې دميرمنې په مخ دبرقــع

پرده وه يا څادر و، كه تر يوه ساعت كم وخت و نو نيمه صاع صدقه ورباندي واجب ده او كه يې څو ځله داسې پرده اچولې وي يا به يوه صاع صدقه وركوي.(احسن الفتاوى ج ۴ ص ۵۳۵)

په احرام سربيره مسح كول

پوښتنه : نن سبا ليدل كيږي چې ميرمنې احرام تړي نو ويښتان بالكل پټ وي ، له سرڅخه پړوني لري كول مشكل وي. ايا دسر مسح په جامه سربيره صحيح ده ؟

ځواب :دميرمنو چې دسردپاسه كومه جامه يا دسمال وي دهغه له احرام سره هيڅ تعلق نشته. دا دسمال يوازې ددې لپاره وي چې ويښتان غوڅ او تيت نشي.

ميرمنو ته په دې دسمال باندې مسح كول جواز نلري، دسمال به لري كوي او مسح به كوي. كه په دسمال باندې مسح وكړي او په سر مسح ونكړي نو اودس يې نه كيږي ، نه يې لمونځ كيږي ، نه طواف او نه حج نه عمره .ځكه دا كارونه له اودس پرته جواز نلري. په سر باندې مسح كول فرض دي او له مسح پرته اودس نه كيږي.(آپ كې مسائل ج ۴ ص ۹۰)

مسئله :ميرمنې په سر باندې دسمال تړل ضروري كڼې او هغه احرام بولي. داناپوهې ده. له غير محرم څخه دسر او مخ پټول فرض دي او دويښتانو دحفاظت لپاره په سردسمال تړل هم جائز دي.(احسن الفتاوى ج ۴ ص ۵٦٦)

دميرمنو لپاره دحج ضروري مسائل

پوښتنه :زما دحج کولو اراده ده،خو ډېره خوابدي يم ځکه که مي مياشتنۍ بيماري دحج په شپو کې پيل شي، څه به کوم او په نبوي مسجد کې د ځلو ښنتو لمونځونو حکم څه دی؟

ځواب :ستاسو پرېشاني له دې امله ده چې مسئله درته معلومه نه ده. دحج په کارونو کې، دبيت الله شريف له طواف څخه پرته، نور داسې څه نشته چې دميرمنو بيماري ورته خنډ شي. که تر احرام وړاندې همدا مياشتنۍ بيماري پيل شي، ميرمن دې غسل يا اودس وکړي او احرام دې وتړي. تر احرام تړلو وروسته چې دوه رکعته نفل کيږي، هغه دې نکوي. د حاجې لپاره مکې ته په رسيدلو باندې لومړنی طواف چې قدوم ورته ويل کيږي سنت دی. که دميرمنو مياشتنۍ بيماري وه هغه دې نکوي ، که منیٰ ته تر تګ وړاندې پاکه شوه ودې کړي او کنه د طواف ضرورت يې نشته او نه وړاندې کفاره اوړي.

دوهم طواف په لسم تاريخ کيږي، هغه ته د زيارت طواف ويل کيږي. دا دحج فرض دی. که ميرمن دا مهال مياشتنۍ بيماري درلوده، دا طواف دې وځنډوي ، تر پاکې راتلو وروسته دې طواف وکړي.

دريم طواف له مکې مکرمې څخه دوتلو په مهال کيږي، دا واجب دی. خو که ميرمن دا مهال هم بيماري درلوده ،

هغه دې پرېږدي ورځخه ساقطېږي، نورکوم مناسک چ
په منی، عرفات او مزدلفه کې سرته رسيږي، په هغوی ک
دميرمنې پاکې شرط نه ده.

که ميرمنې دعمري لپاره احرام وتاړه، ترپاکيدلو پور
دي دعمرې طواف او سعی نکوي. که له دې امله دعمر
وخت پيدا نشو او دحج لپاره منی ته دتللو وخت راغی نو
دعمرې احرام دی خلاص کړي او دحج لپاره دې احرام وتړي
نفل دي نکوي اودس دي وکړي او داحرام نيت د
وکړي، دعمرې چې يې دا احرام خلاص کړ، وروسته دي دد
په ځای عمره وکړي.

په نبوي مسجد کې دسړيو لپاره ځلوېښت لمونځونه کو
مستحب دي، خو دميرمنو لپاره نه دي. دميرمنو لپاره پ
مکه مکرمه او مدينه منوره کې هم تر مسجد په کو
(هستوګن ځای) کې لمونځ کول افضل (غوره) دي.

(آپ کې مسائل ج ۴ ص ۱۱۸ – فتاوی دارالعلوم ج ۶ ص ۴۶)

مسئله: که ميرمنې ته داحرام په حال کي حيض يا نفاس
پېښ شي. انتظار دې وباسي او ترپاکې وروسته دې طوا
او سعی وکړي، وېښتان دي کم کړي عمره دي پوره کړي. ک
ترعمرې وروسته ورته همدا بيماري پېښه شوه، يادذ
الحجې په اتمه تر احرام وروسته حيض يا نفاس پيښ شو
حج ټول افعال دي په ځای کړي، دعرفې وقوف، دمزدلفې
وقوف، دجمرو (شيطانانو) ويشتل، تلبيه او نور الهي

اذکار دي وکړي.

که دحج تر طواف او سعی وروسته دا ییماري پېښه شوه، نو دوداع طواف تري ساقطېږي. ځکه په حایضي او نفاسي میرمنې دوداع طواف نشته. (حج بیت الله کې اهم فتاوی ص ۵۲)

مسئله: که میرمن دحیض یانفاس په حالت کې وه، دحج ټول اعمال دي ترسره کړي، یوازې دبیت الله شریف طواف او دصفا او مروه سعی دي نکوي، طواف دې ځکه نکوي چې هغه ته پاکې شرط ده او سعی دې ځکه نکوي چې سعی له طواف پرته نه کیږي. (آپ کې مسائل ج ۴ ص ۸۹)

مسئله: میرمنو ته په داسې حال کې دحجرالاسود ښکلول بالکل حرام دي چې له سړیو سره دلګیدلو احتمال وي.
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۸۹)

مسئله: درسول الله (صلی الله علیه وسلم) له مبارکې روضې سره که تېل ما تېل ؤ، په تیره دخلکو په منځ کې دمیرمنو داخلیدل حرام دي. په داسې حالت کې دي له لرې څخه درود اوسلام وایي. (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۵۶۸)

په عرفات کې که حائضه میرمن، ایت کریم یا بل څه لولي؟

مسئله: میرمن دحیض یا نفاس په حالت کې، دقرآن کریم کوم ایت دتلاوت په نیت ویلای نشي. خو دقرآن مجید هغه ایت یا سورت چې په هغه کې دعا یا دالله تعالی حمد او ثنا وي، ددعا او ذکر په نیت که یې وایې، ویلای یې شي.

مسئله: که میرمن د حیض او نفاس په حالت کې وي یا پر چا (نارینه یا ښځینه) غسل واجب وي، دهغه مسجد ته تلل، دبیت الله شریف طواف کول، دقرآن کریم تلاوت کول یا ښکلول صحیح نه دي.

مسئله: که دالحمدلله ټول سورت ددعا په نیت وایې یا نورې دعاوې چې په قرآن کریم کې وي، ددعا په نیت ولولي دتلاوت اراده یې نه وي، صحیح دي. په دې کې کومه ګناه نشته. لکه دادعا: ربنااتنا في الدنيا حسنة وفي الاخرة حسنة وقناعذاب النار. یا دادعا: رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا. تر پایه، چې دبقرې دسورت په پای کې ده، یا کومه بله دعا چې په قرآن کریم کې راغلي وي، ددعا په نیت یې ویل صحیح دي. نو په دې صورت کې میرمن د حیض او نفاس په حالت کې ددعا په نیت داخلاص سورت (قل هوالله احد) دذکر په نیت په عرفات کې ویلای شي. دتلاوت په نیت دي نه وایې. (فتاوی رحیمیه ج ۹ ص ۱۱۸)

(دا آیت، لا اله الا انت سبحانک انې کنت من الظلمین.) هم دذکر په نیت ویلای شې خو دقرانې دعاوو حروفو ته دې لاس نه وروړي، په ژبه دې دذکر په توګه وایې. (محمدرفعت قاسمي)

مسئله: دعرفات دوقوف لپاره هم پاکوالی شرط نه دی. که کومه میرمن دحیض یا نفاس له امله دناپاکې په حالت کې وه، په همداسې حالت کې هم دعرفات په میدان دریدل صحیح دي.

که دطواف په دوران کې بالغ شي

پوښتنه :يوې نجلۍ له خپل مور او پلار سره دعمرې طواف وکړ، سعی يې وکړه او تر سعی وروسته يې مور او پلار دهغې دحيض په راتلو خبر شول، مور ترې وپوښتل دانا روغې څه مهال شروع شوه ؟هغې وويل دطواف په مهال. ګواکې هغې دحيض په حالت کې طواف ياپې ډيره برخه کړې ده او سعی يې هم په دغسې حالت کې کړې ده . ددې لپاره حکم څه دی؟

ځواب : نجلۍ دې دعمرې احرام نه خلاصوي ، ترياکې وروسته دې طواف او سعی بيا وکړي. داچې احرام يې تر بلوغ وړاندې تړلی دی، نو وړاندې دجنايت دم نشته . دملا علي قاري په مناسک کې راځي :[که ماشوم داحرام په ممنوعاتو کې ديوه ارتکاب وکړ د هغه په ذمه څه نشته.]

که څه هم دا ارتکاب تر بلوغ وروسته وي، ځکه هغه تردې وړاندې (احرام تړلو په مهال) مکلف نه ؤ.(اپ کې مسائل ج ۴ ص ۱۱۵)

مسئله :په حرمينو شريفينو کې دلمونځ کولو لپاره که کومه ميرمن دحيض دمرض دمخنيوي لپاره کومه دوا استعمال کړي پروا نلري.(آپ کې مسائل ج ۱ ص ۱۰۹)

مسئله :ميرمنو ته دحيض په مهال تر طواف وړاندې سعی کول جوازنلري،ترپاکيدلو وروسته دې طواف او سعی دواړه وکړي او احرام دې خلاص کړي .تردې وخته دې په احرام کې پاته شي.

مسئله: که د طواف په دوران کې میرمنې ته حیض پیدا شي، طواف دې پرېږدي کله چې له مرضه پاکه شې، دا طواف دې بیرته راوګرځوي. (ایضاح المناسک ص ۱۲۱)

مسئله: که میرمن له حیض څخه داسې وخت پاکه شوه چې د دولسم تاریخ تر لمر لویدلو پورې دومره وخت پاته و چې غسل وکړي، مسجد ته لاړه شي، بشپړ طواف یا څلور شوطه وکړای شي او ویې نکړ، دم (وینه – قرباني) ورباندې واجب ده او که دغومره وخت نه و بیا ورباندې نشته. (معلم الحجاج ص ۱۸۰)

مسئله: که میرمن پوهیدله چې حیض راځي او دومره وخت شته چې پوره طواف یا یې څلور شوطه کیدلای شي خو هغه یې ونکړ او حیض پیدا شو، بیا د نحر تر ورځو وروسته پاکه شوه، دم ورباندې واجب ده. که یې څلور ځله ګرځیدل کولای نشوای، نو څه ورباندې نه واجب کیږي.

(معلم الحجاج ص ۱۸۰ – منتخبات نظام الفتاوی ج ۱ ص ۱۵۶)

میرمن له احرام څخه دوتلو لپاره څومره ویښتان اخلي؟

پوښتنه: په حج کې سرې تر قربانۍ وروسته سر خریي. میرمن به د سر ویښتان څومره غوڅوي او دا چې وروستنې ویښتان به اخلي او که به د ټنډې ویښتان هم غوڅوي؟

ځواب: دیوې ګوتې د بند برابر، یعنې دیوې ګوتې د دریمې برخې په اندازه به د ټول سر ویښتان اخلي. (فتاوی محمودیه ج ۱ ص ۲۰۷)

(میرمن به دخپل ټول سر ویښتان په موټ کې نیسي، لاندې به دګوتې دیوه بند په اندازه خپل ویښتان اخلي یا به یې بله میرمن یا محرم غوڅوي. څومره عمرې چې کوي هغومره ځل دویښتانو اخستل ضروري دي او دغومره د حج په موقع غوڅیږي. قاسمي)

که دزيارت دطواف په مهال حيض پيدا شي؟

پوښتنه: که دکومې ميرمنې دالوتکې تلل دذي الحجې په دولسمه نيټه وي او ددې دحيض شپې وي، نوآيا هغه به دزيارت (حج) طواف پرېږدي او هيواد ته لاړه شي او دم وکړي او که دواء يا بل څه استعمال کړي او طواف وکړي؟

ځواب: دزيارت طواف دحج يو ستر رکن دی. ترڅو د زيارت طواف ونکړي، ميړه او ميرمن ديوه او بل لپاره حلال نه دي، بلکې په دې معامله کې احرام پاته دی. له همدې امله دې ميرمنې دزيارت طواف نه پرېږدي. پرواز دې پرېږدي.

مسئله: که څوک له دې طواف څخه پرته خپل هيواد ته لاړه شي، نو وروباندې لازم دی چې له نوې احرام تړلو پرته مکې مکرمې ته لاړ شي، دزيارت طواف وکړي. ترڅو يې دا طواف کړی نه وي، دميړه او ښځې ترمنځ په تعلق کې دوی داحرام په حال کې دي. حج يې هم شوی نه دی او داکوم بدل هم نلري. په دم سره کارنکيږي، بيرته تلل او طواف کول ضروردي. (دځنډ له امله په سرې باندې دم هم واجبيږي.)

کومې ميرمنې چې په دې ورځوکې په مياشتنۍ مرض کې وي، هغوی دې تلل لغو کړي، ترڅوچې پاکه شي، طواف دې وکړي او له مکې دې نه ځي. که وړاندې لادحيض د مخنيوي کار کېدلای شي دهغې کول جائزدي. (آپ کې مسائل ج۴ص۱۴۷)

مسئله: که دميرمنې لپاره دحيض دمخنيوي ددوا استعمال

ضررنه رساوو او هغه یې تحمل کولای شوای او تجربه یې هم پکې وه. دحیض دمخنیوي دوا استعمالولای شي.
(فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۲۷۹ – ج ٦ ص ۴۰۴ – حج بیت الله کې اهم فتاوی ص ۵۳)

مسئله: که میرمن د حیض له امله دامهال دزیارت طواف ونکړای شي، دم نه واجبیږي ترپاکیدلو وروسته دې د زیارت طواف وکړي. (معلم الحجاج ص ۱۸۰)

مسئله: که دطواف په مهال اودس مات شي، همدغلته دطواف سلسله ختمول لازم دي. اودس دې وکړي او له هغه ځایه دې پیل کړي. خو غوره داده چې طواف له سره پیل شي. (په سعی کې اودس شرط نه دی.) (اوجزالمناسک ص ۵۳۰)

دمجبوري په مهال دحیض په حال کې دزیارت طواف کول

پوښتنه: نن سبا حج ته دتللو راتللو تاریخ له وړاندې لا معلوم وي، تبدیلول یې ستونزمن او سړی ورسره پرېشانه کیږي. نو ایا دداسې مجبورۍ له امله میرمن دحیض په حالت کې دزیارت طواف کولای شي؟

ځواب: دحیض په حالت کې دحج داستر رکن (دزیارت طواف) کول خورا ستره ګناه ده. دحدث اکبر(ناپاکې) په حالت کې مسجد حرام ته ننوزي، هلته ډیر وخت تیروي. داچې په داسي حال کې مسجد ته ننوتل حرام دي، نو په داسې حالت کې بیت الله شریف ته داخلیدل او دزیارت د طواف په څیر مهم رکن اداء کول به څرنګه خوښ کړای شي. نوترپاکوالي وروسته به دزیارت طواف هغه کوي، نن

سباجهازونه ډیردي، که کوښښ وکړي ورباندې کامیاب کیدلای شي. له معلم یا نورو مسؤلینو سره لیدل هم کیدلای شي، ددې حل ومومي، ناممکن نه دي. که هلته په پاته کیدلو په مصارفو کې لاس تنګي پیښیږي، پور دې واخلي یا دې مرسته وغواړي، آن که یې روپۍ ختمې شې، په زکات اخستلو کې هم داکار جائز دی. دا ټول کارونه تردې اسانه دي چې د حیض په حالت کې دزیارت طواف وکړي. له ارامي او سستۍ څخه دې کارنه اخلي. که په مسئلو نه پوهیږي او داسې کار وکړي نو حکماً حج وشو. له احرام څخه هم میرمن خلاصیږي، خو اوښ یا غويي ذبح کول لازمیږي. نور دې ددې طواف کولو حکم او فتوی نه ورکوي. او قصداً داسې کارکول او بیا یې جزاء ورکول هیڅ کله جوازنلري او نه دا ګناه په فدیه سره معاف کیږي. (فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۲۸۰)

په سخته مجبورۍ کې دحل یوه لاره

یوه بله مسئله یوازې په میرمنو پورې ځانګړې ده. که دنحر (لسم، یوولسم، دوولسم دذې الحجې) په ورځو کې میرمن دناپاکۍ له امله دزیارت طواف ونکړای شي او ددومره وخت دپاته کیدلو انتظام هم نه وي چې پاته شي، پاکه شي او طواف وکړي، خپل هیواد ته لاړه شي. نو دا ستونزه رامنځته کیږي چې له پاکۍ سره د: ې طواف موقع نه ورته پیداکیږي. فقهاوو ورته یوه شرعي لاره تجویز کړې ده.

په دې هکله دفقهې اجتماع د ۱۴۱۷ هـ ق کال (ذي قعده) په غونډه کې په خورا احتیاط سره داتجویز ومنل شو:

که دزیارت ترطواف وړاندې کومې میرمنې ته حیض ورشي، داسې تدبیر ورته اختیارول ضروري دي چې ترپاک کیدلو وروسته، دزیارت طواف وکړي او وروسته له مکې مکرمې لاړه شي. دا داسې چې دټکټ اوویزې وخت ډیر شي. یادحج کمیته ورته دتللو تاریخ وځنډوي. یابله لاره وسنجوي خوکه داسې کار شونی نه وي. بیا له هیواد څخه ورته راتلل هم ستونزمن کاردی.

نوکه دحیض په حالت کې دزیارت طواف وکړي، سره له دې چې هغه ګنهکاره کیږي، خوهمدا د زیارت طواف یې اعتبارلري اوپه بشپړه توګه حلالیږي، احرام یې خلاصیږي او پابندي یې ختمیږي. خو په دې حالت کې یوه بدنه یعنې سترڅاروی (غویی یا اوښ) قرباني کول وړاندې لازمیږي. که داقربانې ونکړي اوکومه بله موقع همدادزیارت طواف وکړي نو دبدنې وجوب تري ساقطیږي.

(ندای شاهي ص ۱۷٦ جنوري ۲۰۰۱ دحج او زیارت شماره)

ددې مسئلې تفصیل، پـه نظـام الفتـاوی، ج ۱ ص ۱۰۷ ،شامې ج ۲ ص ۲۰٦، زبدة المناسک ص ۱۸۵ کې وګورئ.

(دوې فتوی ګانې موجودي دي ، احتیاط پـه لومړۍ او سهولت په دوهمه کې دی. محمد رفعت قاسمي)

دطواف اوه دولونه او دهغوی حکم

مسئله :که دجنابت ، حیض یا نفاس په حالت کې طواف وشي، نو داوو دولو طوافونو حکم داسې دی :

۱- که جنوب ، حایضه یا نفاسه دزیارت طواف وکړي، نو دیوه غوایې یا اوښ بشپړه قربانې ورباندې لازمیږي او دحرم په حدودو کې به یې کوي . که په داسې حالت کې یې درې شوطه یازیات طواف وکړنودم (پسه ، وزه یا دغوایې او اوښ اوومه حصه) ورباندې اوړي. که یې تر پاکې وروسته دا طواف بیا وکړ نو داجرمانه ترې ختمیږي.

۲- دعمرې طواف :که څوک دحیض ، نفاس یا جنابت په حالت کې دعمرې طواف وکړي، نوجرمانه یې یو دم یعنې (دپسه-وزې) قربانې ورباندې لازمیږي، خوکه تر پاکې وروسته یې بیرته وکړي ، دا ناغه یې ساقطیږي.

۳- دوداع طواف : په حائضې او نفاسې دا طواف واجب نه دی ، هغوی ترې معاف دي .خو که دجنابت په حالت کې داطواف وکړل شي، جزا یې یوه قربانې ده . که یې بیرته په پاکې کې راوګرځوي داجرمانه یې معاف کیږي.

۴- دنذرطواف : دنذر طواف (چې چا په ځان نذر منلي وي) واجب دی ، نو که چا د جنابت ، حیض یا نفاس په حالت کې وکړ، جرمانه یې یو دم (یوه قربانې) ده او که یې دپاکې په حالت کې بیرته راوګرځوي دا جزا ورته معاف ده.

۵- دقدوم طواف: که دجنابت، حیض اونفاس په حالت کې دا طواف وکړای شي، دم ورباندې لازمیږي، که یې دپاکې په حالت کې راوګرځوي بیایې جزا معاف ده.

۶- نفلي طواف. ۷- دتحیة طواف: ددې دواړو طوافونو حکم دادی چې که دحیض، نفاس یا جنابت په حالت کې وکړل شي دم (وینه- یوه قرباني) ورباندې واجبیږي. که یې راوګرځوي دا جریمه (دم- قرباني) ترې ساقطیږي. ځکه نفلي طواف هم دقدوم دطواف په شیر دی. (ندای شاهي دحج اوزیارت ځانګړې شماره ص۱۵۷ جنوري ۲۰۰۱ م، دغنیة المناسک ص۲۴۷ په حواله.)

که دوداع دطواف په مهال حیض پیدا شي

مسئله: حائضه میرمن که دمکې مکرمې له ودانیو څخه تروتلو وړاندې، له حیض څخه پاکه شي، په هغې واجب دي چې بیرته وګرځي او دوداع طواف وکړي. (ترڅو یې ګرځیدل په واک کې وي.) او که تر ودانیو وتله او پاکه شوه، بیا ورباندې واجب نه دی. خو تر میقات تیریدلو وړاندې که له کومې وجه بیرته راوګرځي طواف ورباندې واجب دی.

(معلم الحجاج ص۹۰)

مسئله: که میرمن له حج څخه دبیرته وتلو په مهال حائضه شوه، دوداع طواف یې وکړای نشوای، نه هلته ځنډیدلای شوای، له میړه یا بل محرم سره تله او طواف یې ونکړای شو دم ورباندې نشته. په حایضه میرمن باندې دوداع طواف واجب نه دی، که موقع وه، ترپاکې وروسته ورګرځیدل او

طواف کول غوره دي. دا دوداع دطواف حکم دی خو دزیارت دطواف حکم بيل دی. (فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۲۸۹)

مسئله : دحرم ، حل او میقات په هستوګنو او حایضي، نفاسي ،مجنون او نابالغ دوداع طواف واجب نه دی. (معلم الحجاج ۹ ص ۲۰۷)

مسئله :حایضه او نفاسه دي دوداع طواف نه کوي ، تر مسجد بهر دې دعا وکړي او رخصت دي شي.(معلم الحجاج ص ۲۰۷)

دمیرمنو دسر خریيلو ممانعت

دعلي او عایشې رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم میرمنې له سرخرییلو څخه منع کړي دي .(مشکوة، حدیث شمیره ۲۶۵۳)

له ابن عباس رضی الله عنهما څخه حدیث روایت شوی دی چې په میرمنو باندې حلق (سرخرییل) نشته ، په میرمنو یوازې ویښتان اخستل دي. (حدیث ۲۶۵۴)

وضاحت : دمیرمنې لپاره داحرام خلاصولو په مهال، له دوو وجهو سر خرییل منع دي : یو داچې دمیرمنې بڼه بدشکله کیږي ، صورت بدلول (مثله) منع ده .

دوهمه وجه داده چې دامیرمن له سرې سره ورته والی پیدا کوي ، میرمنو ته دسرېو بڼه غوره کول مطلقاً منع ده.

(رحمة الله الواسعه ج ۴ ص ۲۴۸)

یوه اړینه لارښوونه

دحج داداري له لوري چې دحجاجو لپاره هستوګن ځایونه چمتو کیږي، هلته په یوه خونه کې څو کورنۍ وي ، دمحرم او نور څه خیال پکې نه ساتل کیږي. دا خورا خوا پوري کوونکی او خطرناکه خبره ده .

لومړی خو دا هڅه وشي چې د میرمنو اوسړیو خونې بیلې ،بیلې وي په دې صورت کې به کومه ستونزه نه وي.

خو که داسې کیدلای نشي او په یوه خونه کې هستوګنه کوي، دڅادرونو په واسطه دي پردې واچوې ترڅو تر یوه حده مخنیوی شوی وي اودحج په مبارک سفر کې له بدنظره او بې حیایې څخه خوندې وي.

دافسوس ځای دادی چې په عامه توګه حجاج دې ته هیڅ خیال نه کوي، پردی سړی او میرمن داسې اوسي، ګواکې سره سکنې (محرم) دي. ډیر وخت خو دپردي سړي او میرمنې تر منځ یوازېتوب هم راځي چې، داقطعاً حرام دی . د امکان ترحده له داسې بې احتیاطیو څخه ځان ساتل لازم دي. میرمن دې خپل ویښتان هم دنامحرم له لیدلو څخه ساتي.

الله تعالی دې موږ ټول وساتې .آمین. (محمدرفعت قاسمي)

دميرمنو احرام

ميرمن دي داحرام تړلو لپاره ګنډل شوي جامي نه لري کوي بلکي دهغوی احرام يوازي داداې چي سرپټ اومخ لوڅ کړي.
(نن سبا يو خاص ډول جامه چي ميرمني وربانـدي دسر وېښتان بندوي، ميرمني يي داحرام په نوم يادوي، ددي کوم اصل نشته ددي جامي يا دسمال نوم احرام نه دی.)
– داحرام تر تياري کولو وروسته، که مکروه وخت نه وي دوه رکعته نفل دي داحرام په نيت وکړي. غوره داده چي په لومړي رکعت کې دکافرون او په دوهم رکعت کې داخـلاص سورت ووايي.
–که دامهال ميرمني دناپاکي په حال کي وي،لمونځ دي نکوي بلکي هسي دي داحرام نيت وکړي اوتلبيه دي ووايي.
– سړی چي له لمانځه څخه فارغ شي له سرڅخه به څادر لري کړي، بياچي دحج ددريو ډولونو څخه دهريوه اراده لري، دهغه نيت دي وکړي. مثلاً ،که يي دافراد دحج اراده وه نو داسي نيت دي وکړي:

اللهُمَ اِنِيْ اُرِيْدُ الْحَجْ فَيَسِرْهُ لِيْ وَ تَقَبَلْهُ مِنِيْ.

(ای الله!ما دحج اراده کړي ده ، هغه زما لپاره اسانه کړي او قبول يي کړي.)

او که يي دحج قران اراده وه نو داسي دي ووايي :

اللهُمَ اِنِيْ اُرِيْدُ الْحَجَ وَالْعُمْرَةَ فَيَسِرْهُما لِيْ وَ تَقَبَلْهُما مِنِيْ.

(اى الله زه د حج او عمري دواړو اراده كوم ، هغوى زما لپاره اسانه كړي او قبوله يي كړي.)

او كه يي د حج تمتع اراده وه داسي دي ووايي :

اللّٰهُمَّ اِنِيْ اُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِرْهَا لِيْ وَ تَقَبَّلْهَا مِنِيْ.

(اى الله زه د عمري اراده كوم ، هغه زما لپاره اسانه كړي او قبول يي كړي.)

نن سبا ډير خلک حج تمتع كوي په دي كي آساني ده.

- تر دي وروسته دي سړى په زوره او ميرمني په پټ ږول دري ځله تلبيه ووايي. د تلبيې الفاظ دا دي :

لبيک اللهم لبيک، لبيک لا شريک لک لبيک ، ان الحمد والنعمة لک والملک لاشريک لک.

(حاضر يم اي الله ! زه حاضر يم ، ستا هيڅ شريک نشته ، حاضر يم ټولې ستاينې او ټول نعمتونه يوازې تا لره دي او ټوله پادشاهي تا لره ده ، ستا هيڅ شريک نشته.)

- له نيت سره تر تلبيه ويلو وروسته، تاسو محرم سوا است او د احرام ټولې پابندې شروع سوي. دا يادولرئ چي د احرام لپاره نه يوازې نيت كافي وي او نه هم يوازې تلبيه، بلكې تلبيه او نيت يو ځاى شرط دي.

- تر تلبيه وورسته ، چي هره دعا غواړئ ويي كړئ، دا دعا مستحب ده : {اللهم اني اسئلک رضاک والجنة واعوذبک من غضبک والنار.}

(ای الله! زه ستا رضا او جنت غواړم او ستا له قهر او له دوزخ څخه پناه غواړم.)

- داحرام تر پیل کېدلو وروسته، ډېر شیان چي وړاندي روا وو، هغه هم حرامېږي. مثلاً، خوشبويي لګول، ګنډل شوي جامي اغوستل، نوک یا وېښتان اخستل، سر یا مخ پټول، ښکار کول، له مېرمنې سره جماع کول یا دبې حیايي خبري کول.

- دتمتع حج په صورت کې چي مکې مکرمې ته ورسېږئ تر طواف کولو وړاندې تلبیه ویل بنده کړئ. خو په حج افراد او قران کې دي تلبیه، دذي الحجې تر لسمي دجمرې عقبې (ستر شیطان) تر ویشتلو جاري وي. تر هغه چي دتلبیه دویلو حکم وي په کثرت او ذوق سره يي جاري ولرئ. دویلو په مهال يي معنی په ذهن کې ولرئ او داتصور وکړئ چي یو بې وزله مین دخپل مهربان بادار دربار ته ځي.

په بیت الله کي حاضري

- مکې مکرمې ته په رسیدلو، دهستوګنې او نورو په اړه د انتظام تر بشپړولو او بې غمي وروسته، تاسو حرم شریف ته د

حاضرېدلو لپاره تیارېږئ.

- کله چي مو په بیت الله شریف سترګې ولګېږي، په ډاډه زړه دژړا په بدرګه دعا وکړئ، دا دقبول موقع ده.

– که تاسو د حج افراد احرام وتاړه، بیت الله ته په حاضریدلو سمدستي به دقدوم طواف وکړئ، که مو د تمتع یاقران حج احرام تړلی ؤ، بیا به لومړی دعمري طواف وکړئ.
د تمتع حج کوونکي لپاره دقدوم دطواف حکم نشته، خو څوک چي دقران حج کوي، هغه به تر عمري وروسته، دقدوم طواف وکړي.
– څوک چي دتمتع حج کوي، هغه به دطواف په دریو لومړنیو شوطونو کي رمل (په تیزي سره تلل) او په ټولو شوطونو کي به اضطباع (د احرام څادر تر ښی اوږي لاندي او په چپه اوږه اچول) کوي. بیا به دعمري دبشپړه کولو لپاره دصفا او مروه ترمنځ سعی کوي. د حج قران والا به هم داسي دعمري ارکان ترسره کوي.
– د حج افراد کوونکي که دقدوم تر طواف وروسته، د حج سعی کوي، هغوی به هم په طواف قدوم کي رمل او اضطباع کوي.
څرګنده دي وي چي رمل او اضطباع دسړیو لپاره په هغه طواف کي مسنون عمل دی چي تر هغه وروسته دسعی اراده لري.
– د میرمنو لپاره درمل او اضطباع حکم نشته. (ځیني میرمني دسړیو په څیر رمل کوي، دا صحیح نه دي، هغه دي نکوي.)
– د طواف پیل او پای دحجرالاسود له استلام (ښکلولو) څخه کیږي. دحجرالاسود تر څنګ په ټول مطاف، یوه توره پټۍ جوړه شوي ده، دي پټۍ ته نژدي دي داسي ودریږئ چي

حجرالاسوديي ښي لورته وي. بيا دطواف نيت داسي وکړئ:
[اى الله ! زه ستا دسپيڅلي کور داوه ځله ګرځيدلو دطواف نيت کوم، دا يوازي ستا درضا او خوشحالي لپاره، نو ماته يي آسانه او را څخه قبول يي کړه.]

- تر نيت وروسته ښي لورته شئ او له حجرالاسود سره بالکل برابر شئ، يعني مخ او سينه حجرالاسود ته مخامخ کړئ او په توره پټى ودريږئ، دلمانځه په څير لاسونه اوچت کړي. {بسم الله ، الله اکبر، ولله الحمد} وواياست او لاسونه کښته کړئ.

- تر دي وروسته دحجرالاسود استلام وکړئ، صورت يي دادى چي که حجر الاسود ته درسيدلو موقع پيدا شوه، نو خپل مخ دلاسونو ترمنځ داسي کښيږدئ لکه په سجده کي چي ايښودل کيږي او په نرمه سره يي ښکل کړئ. خو که دګڼه ګوڼي له امله حجرالاسود ته ونه رسيږئ په توره پټى ودريږئ، له لري دواړه ورغوي دحجرالاسود لورته واړوئ او داتصور وکړئ، ګواکي لاسونه په حجرالاسود کښيښودل شول، بيا هغه ښکل کړئ. داستلام په مهال داتوري ولولئ:
الله اکبر، لا اله الا الله والصلوة والسلام على رسول الله.)
له لري استلام کول هم دومره ثواب لري لکه له نژدي چي ښکل کړاى شي، نو په ازدحام کي دنژدي ورتللو هڅه مکوئ. په تيره ميرمني خودي له پردو خلکو سره له نژدي والي ځان وساتي.

-تراستلام کولو وروسته، سمدستي مخ ،سینه او قدمونه دحجرالاسود بنې لور ته کړئ او تلل پیل کړئ. د تګ په مهال مخ دبیت الله شریف په لور مکوئ، بلکي کینته ګورئ او راګرځي.

-کله چي یو ځل ګرځیدل پوره شي او بیا هغي توري پټی ته ورسیږئ ،نومخ او سینه دحجرالاسود لورته کړئ ، استلام وکړئ او ژر خپل حالت ته راشئ او داسي اوه ځله ګرځیدل بشپړ کړئ.

-دطواف په اوه ځله ګرځیدلو کي به په اوداسه ګرځي، که په لومړنیو څلورو شوطونو کي دچا اودس مات شي ، اودس دي وکړي او طواف دي له سره پیل کړي او که ترڅلورو شوطونو وروسته، اودس مات شي، بیا یي خپل اختیار دی چي تر اودس کولو وروسته، بیرته طواف کوي او که هغه پاته شوطونه پوره کوي.

-دطواف په دوران کي ذکر، تسبیحات ،دیني خبري او که یي کومي دعاوي یادوي، داهرڅه کولای شي .معلومي دعاوي ویل ضروري نه دي. هره دعا چي وایي داسي ورو دي وایي چي، دنورو عبادت ته زیان ونه رسیږي.نن سبا چي په طواف کي ګروپ جوړوي او په چیغو، چیغو دعاوي وایي داطریقه بیخي غلطه ده.

-دطواف تر اوه ځله ګرځیدلو وروسته دوه رکعته واجب

الطواف لمونځ کول ضروري دی، خو که مکروه وخت ؤ، طواف دي وکړي او د مکروه وخت تر تیریدلو وروسته دي لمونځ وکړي، د هر طواف لپاره دي بیل، بیل دوه رکعته لمونځ وکړي.

- د طواف په مهال د لمونځ کوونکي تر مخ تیریدل منع نه دي، خو پرته له طوافه بنه داده چي له لمونځ کوونکي سره نژدي تیر نشي، بلکي د سجدي له ځای څخه دي لري تیر شي.

- د طواف لمونځ له مقام ابراهیم (علیه السلام) سره کول مسنون دی. په لومړی رکعت کي دکافرون سورت او په دوهم رکعت کي داخلاص (قل هوالله) سورت وویل شي. که دګڼه ګوڼي له امله، له مقام ابراهیم (ع) سره ځای نه وي، بیا هر ځای د طواف لمونځ کیدلای شي.

- تر طواف وروسته له ملتزم (د حجرالاسود او بیت الله ددروازي تر منځ نژدي دوه نیم ګزه ددیوال برخي) سره لګیدل او دعا کول مستحب دي. که موقع وه له دي ځای سره مخ، سینه اوګیډه ولګوئ او چي کومه دعا موزړه وي هغه ووایئ. دادد دعا د قبول ځای دی. خو که څوک د احرام په حالت کي وي، بیا دي ځان نه ور سره لګوي، ځکه دا ځای خوشبويي لري او هغه د احرام په حالت کي په بدن وهل منع دي.

- تر طواف وروسته، د زمزم داوبو څښل سنت دي، د زمزم د څښلو په مهال چي کومه دعا کیږي هغه قبلیږي. انشاء الله.

دصفا او مروه سعی

– تر طواف وروسته، که څوک سعی کوي، دحجرالاسود استلام په توره پټی به نيغ لاړ شي هغه لورته په څه واټن کي دصفا غونډۍ ده.

– صفا ته به دومره لوړېږي چي، بيت الله شريف ورته تر سترګو شي، نور پورته تلل مکروه دي. دلته به قبلي ته مخ کړي او دسعی نيت به وکړي، داسي به لاسونه لوړ کړي لکه په دعا کي چي لوړېږي. دتکبير تحرمي په څير دي تر غوږونو نه لوړوي. ځيني بي خبره کسان يي دغسي لوړوي، دلاسونو داوچتولو په مهال دي دعاکوي چي، داهم ددعا دقبول ځای دی.

– بيا به له صفا څخه دمروه په لوري ځي، مروه ته په رسيدلو يو ځل پوره شو، په مروه کي به هم دغسي لاسونه لوړ کړي او هغسي ذکر او دعا به کوي.

دصفا او مروه تر منځ چي پړي رنګه لايتونه لګيدلي دي، هلته به سړی تيز ځي چي داسنت ده. خو ميرمني به په خپل حالت ځي، هغوی به منډي نه وهي، دشنو ستنو ترمنځ به دا دعاوي وايي: [رب اغفروارحم انک انت الاعزوالاکرام]

[ای الله! په مغفرت او رحمت مي ونازوه، بيشکه ته په ټولو غالب او ډير کرم کوونکی يي.]

- دسعی په مهال که اودس پاته نه شو نو اودس کول لازم نه دي، که اودس وکړي او بیا راشي، له پیله به بیا سعي نکوي بلکي پاته ګرځیدل به پوره کوي، که دسعی په پیل کي اودس مات شي او که وروسته توپیر نلري.

- کله چي له سعی څخه فارغ شي په مسجد حرام کي دوه رکعته نفل کول هم مستحب دي. دالمونځ تر سرخریلو وړاندي کیږي.

- دادي معلومه وي چي سعی یوازي دحج یا عمري له ارکانو سره مشروع ده، له حج او عمري پرته نفلي سعی کول ثابت نه دي. ځیني خلک دسعی کولو په مهال لیدل کیږي. هغوی دافکر کوي چي دنفلي طواف په څیر سعی هم کیدلای شي، خو داناپوهي ده.

دسر خریل یا کوچنی کول

دسعی تر بشپړولو وروسته، عمره کوونکی متمع حاجي دي سرو خریي یا دي ویښتان لنډ کړي او احرام دي پرانیزي.

مسئله: داحرام دپرانستلو لپاره میره خپلي میرمني او پلار دخپل لور ویښتان دګوتي دیوه بند په اندازه اخستلای شي، داکار میرمني هم کولای شي.(آپ کي مسائل ج ۴ ص ۱۴۴)

- څرګنده دي وي چي له سرخریلو یا کمولو پرته داحرام قیدونه نه ختمیږي. له حنفي مذهب سره سم، لږتر لږه دسر دڅلورمي برخي خریل یا کمول لازم دي، دټول سرخریل یا

لنډول سنت دي. خو دا دسرېو لپاره او دميرمنو لپاره دګوتې ديوه بند په اندازه دويښتانو اخستل دي.

– حج يا عمره کوونکي چي ټول ارکان اداء کړي، يوازې سرخرييل يا کوچني کول ورته پاته وي. خپل ويښتان په خپله هم کمولای شي او د خپل محرم ملګري ويښتان هم کمولای شي. خو دويښتانو ترکمولو وړاندي دي نوکان يا نورڅه نه کموي، کنه ورباندي دم اوړي.

تر عمره وروسته په مکه معظمه کي هستوګنه

– دعمري تر بشپړولو وروسته، تمتع حج کوونکی حلاليږي. په مکه مکرمه کي دهستوګني خيال وساتئ ،ډېر طوافونه، په حرم کي په جماعت سره لمونځونه او دتلاوت او د ذکر به ډېر اهتمام کوئ، دلته دهري نيکي ثواب سل زره (يولک) ګونه ترلاسه کيږي.

– که غواړئ په دي وخت کي نفلي عمري هم کولای شي. په دي صورت کي دحرم له حدودو بهر له تنعيم (دعائشي (رض) مسجد) يا له جعراني او نورو ځايونو احرام تړل کيږي.

منی ته تلل

– ديوم الترويه، يعني دذي الحجي داتمي ورځي په شپه منی ته تلل پيل کيږي. ددي لپاره دذي الحجي داوومي نيټي له مابنامه، داحرام او نورو تياري بشپړي شي، تر څو دمعلم دبسونو له نظام سره سم منی ته ولاړ شي. ځکه بي خبرو خلکو

ته د معلم له بسونو پرته، منٰی ته تلل د یر ستونزمن وي، خو ځوک چي بلد دي، هغوی دا تم تاریخ د سهار تر لمانځه وروسته په اطمینان سره منٰی ته تلای شي.

- د حج احرام که څه هم په مکه معظمه کي په خپل هستوګن ځای کي تړل کیږي، خو مسجد حرام ته تلل هلته نیت او تلبیه ویل افضل او غوره دي.

- ځوک چي د زیارت تر طواف وروسته له کنه ګوښي څخه ځان ساتي، هغوی، نن یو نفلي طواف (له رمل او اضطباع سره) کوي، د حج سعی وړاندي هم کولای شي، که دا مهال سعی وکړي نو بیا وروسته د سعی کولو اړتیا نشته.

- منی ته په تللو یوه جوړه جامه، بدني، دپُزي فرش، چترۍ دا وبو ترموز د خوړلو څه وچ شیان (بسکیت یا بل څه) ضروري سامان یوړل شي، زیات څه وړل ضرور نه دي.

- په منی کي له اتم تاریخ څخه د نهم تاریخ تر سهاره، پنځه لمونځونه اداء کول مسنون دي.

- په منی کي خیمي دا ور ضد تیاري شوي دي، د کولر هم انتظام شوی وي، خو دا ټول یو د ول معلومیږي نو حجاج دي خپلي خیمي سمي وپیژني. له خپلي خیمي دي د یر لري نه ځي، کنه د ورک کیدلو ویره د یره وي او حجاج دي د خپلي پیژند ګلوی کارتونه تل له ځان سره ولري.

- په خيمو کي دي سړي او ميرمني يوځای نه وي، پرده
مابين کي دي څادر واچوي، ځايونه بيلول ضروري دي.
دذي الحجي له نهم تاريخ دسهار له لمانځه څخه ددیارلسم
تاريخ د مازديگر ترلمانځه پوري دي تر فرض لمانځه وروسته
سړی په زوره او ميرمني ورو يو ځل دتشريق تکبيرونه [الله
اکبر، الله اکبر ، لا اله الا الله والله اکبر ،الله اکبر ولله الحمد]
وايي، دا واجب دي.

دعرفات په ميدان کي

- عرفات ته، دمعلم دبسونو تلل دشپي پيل کيږي، خو
سنت داده چي دسهار لمونځ وشي او عرفات ته روان شي.
- عرفات ته دتللو په مهال په ذوق اوشوق سره تلبيه وويل
شي ، دميني په فضاء کي دالله تعالی درحمت په هيله کي وي
او دعرفات قصد وشي. ځکه همدا ورځ دحج تړول حاصل دي.
- په عرفات کي که دخپل ځای معلومات وړاندي لا وشي نو به
آساني وي. ډير وخت دمعلم بسونه دترافيکو دازدحام له امله
دومره ځنډ کوي چي، دوقوف وخت په بسونو کي په کښيناستلو
ضائع کيږي. که دهستوګني ځای معلوم وي، نو ځيني خلک پياده
کيږي او هستوګن ځای ته په خپله ځي، له منی څخه دټکسي
موټرونو په واسطه هم ځي.
- دعرفي وقوف چي فرض دی تر زوال وروسته پيل کيږي. ښه دا
چي تر زوال وړاندي تياری وشي تر څو وروسته وخت ضائع نشي.

- په دي ورځ چي څوک دنمره په مسجد کي دعرفات په امام پسي لمونځ کوي، هغوی دماسپښین او مازدیگر لمونځونه یو ځای ماسپښین کوي .خوکوم کسان چي په خپلو خیمو کي په انفرادي یا اجتماعي توگه لمونځونه کوي، هغوي ته هر لمونځ په خپل وخت ضرور دي. که هغه په ماسپښین کي دمازدیگر لمونځ وکړي، گواکي دمازدیگر لمونځ یي کړی نه دی. ددي مسئلي ډیر خیال ساتل په کار دي ځکه ډیر خلک په منظم ډول ،ټولو خلکو ته دجمع بین الصلوتین تلقین کوي. خو احناف په دي تلقین دعمل کولو اجازه نه ورکوي.

- داسي معلومیږي چي نن سبا دعرفات امام له نجد څخه راځي، هغه مسافر وي او په عرفات کي دماسپښین او مازدیگر لمونځونه په قصر(دوه ،دوه رکعته) کوي. نو هغه حجاج چي همدا ورځ مسافر دي، هغوی دي له امام سره سلام وگرځوي اوکوم حجاج چي مقیم دي.(ترحج پنځلس ورځي وړاندي په مکه مکرمه کي هستوگن شوي دي.) هغوی دي دامام ترسلام اړولو وروسته، په دواړو لمونځونو کي خپل نور دوه رکعته لمونځ پوره کړي.

- دلمر ترلویدلو په عرفات کي وقوف واجب دی.

- دعرفات ټول وخت په دعا ، ذکر، تلبیه او نورو عباداتو تیر شي. چاچي دعرفات په امام پسي لمونځ کړي وي، هغه

دي لمونځ نه کوي .خو دخيمو هستوګن که له ماسپښينه تر مـازديګره ځـومره لمونځونـه کـولای شـي ودي کـړي.ددي ورځي دا ارزښتمنه شيبي دي په بسي سره نه ضائع کوي.

تر غروب وړاندي دمعلم استازي، حجاج پـه بسونو کي کښينوي، که په بس کي ځوک کښيني هم له ذکر او دعـا ځخه دي غفلت نه کوي. دابسونه تر غروب وړاندي له عرفات ځخه وتلای نشي.نو هلته په چوکيو ناست دي دعـا ، تلبيه او ذکر كـوي. (كـه ځـوک لـه عرفـات ځـخه ترغـروب وړانـدي ووزي وربانـدي دم اوړي.)

- تر لمر لويدلو اودشپي ترراتللو وروسته هم په عرفات کي دماښام لمونځ نه کوي.

مزدلفي ته تلل

- دلمرترلويدلو وروسته، له عرفات ځخه دمزدلفي په لور حركت كيږي، چي مزدلفي ته ورسيږي هلته ماخستن دماښام او ماخستن لمونځونه يوځای کوي،ددي لمونځونو يو ځای کول په ټولو ضروري دی،که هغه يوازي لمونځ کوي اوکه په جماعت.

- په مزدلفه کي داشپه خورا مبارکه ده، ځيني علمـاء خو يي دقدر تر شپي غوره بولي، په دي شپه کي له ستړيا سره ،سره عبادت کول ډير ثواب لري.هسي په خوب ضائع نشي. په مزدلفه کي په خلاصه فضا کي هرځوک پـه خپل پزي (بوريا

فرش) شپه تیروي. له دیرو انتظاماتو سره، سره داوبو
منیت محسوسیږي، بنه داده چي له عرفات څخه لاداوبو
نور څه غم وخوړل شي، څه د خوړلو څښلو شیان ورسره
وړل شي.

- داحنافو په نزد، دمزدلفي دوقوف وخت له سپید وترلمر
لو پوري دی. له دي امله وختي دسهار لمونځ وشي او تر
ره په مزدلفه کي وقوف وکړي په زاریو، زاریو دعا وکړي.

- په مزدلفه کي دقبلي دمعلومولو لپاره اسانه لاره دا ده
ي بیت الله شریف ته نژدي، په یوه غونډۍ باندي یو برج
، هلته وربانديي سپین ګروپ دی. داد مکي معظمي
اوشا په څو میله کي تر سترګو کیږي. دشپي له خوا د
دلفي په هرځای کي، دي لایت (ګروپ) ته په کتلو دقبلي
ی معلومیږي.

مسئله: اوه ډبري په لومړۍ ورځ (لسم تاریخ) یوازي
ره عقبی دویشتلو لپاره دي، نور په یوولسم او دوولسم
یخ یوویشت ډبري دري جمري یعني هره یوه په اوو، اوو
و ویشتله کیږي. (معلم الحجاج ص ۱۶۸)

- په مزدلفه کي، درمي (ویشتلو) لپاره دنخود ددانی په
ازه ډبري ټولي شي او که ناپاکي وي په اوبو ومینځل شي.

له مزدلفې څخه بیرته تلل

- ۱۰ذي الحجې په لسمه دمزدلفې تر وقوف وروسته منی ته حرکت کیږي.

- که همت وي او په منی کې ځای درته معلوم وي، میرمنې او نور درسره نه وي نو له مزدلفې څخه منی ته د بسونو تر سفر پیاده تلل سهولت دی، په دې سره وخت سپمیږي.

بیا په منٰی کې

- منی ته په رسیدلو تر هرڅه وړاندې، جمره (سترشیطان) ویشتل دي. نن سبا دلته خورا ګڼه ګوڼه وي، په دې ازدحام کې دکمزورو او میرمنو کار نه دی، ډیر وخت تر مړینې پورې خطر وي. نو دډیر شوق په واسطه ځان هلاکت ته دا چولو په ځای، لومړی په منی کې په خپل هستوګن ځای کې ارام وکړئ. غرمه یا تر هغه وروسته په ارام او ډاډ سره رمي وکړئ. په تیره کمزورو خلکو خو ډیر فکر کول په کار دي.

- که یوازې دحج احرام وي نو تر رمی (جمرو ویشتلو) وروسته حلق یا قصر وشي او احرام خلاص شي. میرمنو ته حلق جواز نلري، یوازې دومره دي وکړي چې دسر دویښتانو سرونه دګوتې دبند په اندازه کم کړي.

- که احرام دتمتع یا قران حج وي، نو لومړی به واجب قرباني کوي، بیا به سر خریي.

ـ داحنافو په نزد له مفتي به قول سره سم، دقارن او متمتع لپاره، رمی، قرباني او حلق په ترتيب سره واجب دي. هغه وشي تر څو همدا ترتيب وساتل شي. خو که څوک دکمزوري يا دسعودي دنويو قوانينو او يا بل عذر له امله ترتيب ساتلای نشي، نو دصاحبينو او دري ګونو امامانو په قول وربانديدم نه اوړي.

دزيارت طواف

ـ تر قرباني او حلق وروسته، دزيارت دطواف لپاره مکي مکرمې ته ځي، داطواف فرض دی او له لسمي ييا تر دوولسمي نيټي تر لمر لويدلو پوري کيږي.

ـ کومه ميرمن که ناپاکه وي، دامهال دي دزيارت طواف نکوی، په منی کي دي پاته شي او تر پاکوالي وروسته دي طواف وکړي. په دي ځنډ کي ورباندي کومه جريمه نشته. که يي مخته دحج سعی کړي نه وي، نو دزيارت تر طواف وروسته دي سعی وکړي.

ـ دمنی دورځو (۱۰-۱۲) دشپي ډير وخت په منی کي تيرول سنت ده.

رمی جمار (دشيطانانو ويشتل)

ـ په يوولسم او دوولسمه نيټه، تر زوال وروسته، جمري ويشتلي کيږي. په دي کي دي هم دازدحام په مهال بيړه نه کيږي، په ارامي دي ځي، وروسته دي هغه وولي.

- په دي دوا ړو ورځو کي تر زوال وړاندي، د جمرو ويشتل
جائز او اعتبار لري. دادي په ياد وي.

- کمزوري خلک او ميرمني که دشپي جمري وولي ورته
مکروه نه دي. نو که څوک د جمرو په ويشتلو قدرت لري،
هغوی په ځای دنورو ويشتل صحيح نه دي. تاسي دا فکر
کوئ، ډيرکسان له حقيقي عذر پرته جمري دشپي ولي، ددي
خلکو رمی اعتبار نلري او درمی دپريښودلو له امله ورباندي
دم اوړي.

- ډبري به داسي ولئ چي په هغي دايري کي ولګيږي، بهر
لاړي نشي.

- دجمره عقبه او وسطی تر ويشتلو وروسته مخ په قبله
دريدل او دعا کول سنت دي. دوروستني جمري تر ويشتلو
وروسته ددعا کولو حکم نشته.

- په منی کي خاصي ورځي، دالله ذکر ورځي دي. په دي
دوره کي دعبادت اهتمام وشي. ددين دخپرولو په هکله هم
فکر وشي.

- دذي الحجي په دوولسمه نيټه، تر لمر لويدلو وړاندي
له منی څخه دمکي معظمي په لور حرکت کوي.

- که څوک ددیارلسمي نيټي ترسپيدو پوري په منی کي
پاته شي، نو دديارلسم تاريخ دجمرو ويشتل هم ورباندي
واجب کيږي.

مکي معظمي ته بیرته راتلل او دوداع طواف

- مکي مکرمي ته په راتللو، کوم کسان چي سمدستي خپل هیواد ته تلل غواړي، په هغوی باندي تر تللو وړاندي د وداع طواف واجب دی. که پرته له عذر څخه یي پریږدي، دم ورباندي اوړي.

- د طواف زیارت تر کولو وروسته، که چا نفلي طواف کړی وي، هغه دوداع د طواف ځای نیسي.

- که څوک له طواف څخه پرته ترمیقات بهرلاړ، په هغه دم واجیبږي. له دم څخه د خلاصیدلو لاره داده چي بیا دعمري احرام وتړي، حرم ته راشي، لومړی عمره وکړي او بیا دوداع طواف. یوازي دوداع د طواف لپاره، دعمري له احرام تړلو پرته راتګ منع دی، دا خبره یاده ولرئ.

- کومه میرمن که دبیرته تللو په مهال ناپاکه وي، په هغي باندي دوداع طواف ته ځنډیدل نشته. هغه دوداع له طواف څخه پرته خپل هیواد ته تللای شي.

- په مکه معظمه کي چي څومره وخت څوک پاتـه کیږي هغه وخت دي غنیمت وګڼي، د ډیرو طوافونو او عمرو کولو اهتمام دي کوي. په ژوند کي داموقع بیا، بیا نه ترلاسه کیږي. دبیرته تللو په مهال دي دخفګان اوخواشیني څرګندونه کوي، له بیت الله څخه دي له زاریو او ژړا سره بیرته ځي.

الله تعالی دي په خپل فضل او مهرباني سره موږ هلته په ادب سره په حاضریدلو ونازوي. آمین یا رب العلمین. محمد رفعت قاسم

متمع حج ته يو ځغلند نظر

۱- له ميقات څخه احرام وتړئ.

۲- مكي تـه پـه راتلو طواف وكړئ. (دا اوه ځله گرځيدل دي، له حجرالاسود څخه پيل او په هغه ختميږي. ددي لپار هلتـه پـه فرش دپاسـه يـوه پنډه كرښـه ده او ورسره پـه ديوال باندي يو شين رنگه راډ دی.)

۳- تر طواف وروسته، دوه ركعتـه لمونځ واجب دی. (پـ مكروه وخت كي يي سمدسني مكوئ، كله چي مكروه وخ تير شي بيا يـي وكـړئ.) دادوه ركعتـه مـخ پـه كعبـه لـه مقا ابراهيم(ع) سره وكړئ. بيا دزمزم اوبه وڅښي او سعی تـه لا شي. سعی لـه صفا څخه پيل تر مروه پوري يو ځل تلل دي همداسي اوه ځله گرځيدل پوره كړئ. دوه ركعتـه لمونځ وكړ او بيا به سر وخريئ. ميرمني دي يوازي دگوتي دبند پـه انداز ويښـتان غـوڅ كـړي. داعمـره وشـوه، احـرام خـلاص كـړئ همداسي دتمتع حج كيږي.

اوس تاسي په مكه معظمه كي په خپلو جامو كي او سيرئ طواف كول، هلته ستر عبادت طواف دی، څومره وخت چي ل فرض او سنتو درتـه پاتـه كيږي، هغـه پـه طـواف تيروئ. ته وخت پـه حـرم كـي تيـروئ. ترڅـو دذي الحجـي اتمـه نيټ راورسيږي. په اتمه نيټه طواف وكړي، سعی وكړي او منی ته لاړشئ. (دا "سعی مقدم" شوه.)

ذي الحجي داتمي له ماسپښینه یا دنهمي نیتمي تر لمر راختلو پوري په منیٰ کي اوسئ او دلمر په راختلو عرفات ته روان شئ. تر زوال وړاندي عرفات ته ځان ورسوئ. هلته څه وخت دوري را دوري شئ تر څو دماسپښین وخت راشي. بیا دماسپښین لمونځ وکړئ. (که یي په امام الحج پسي کوئ، دماسپښین او مازدیګر لمونځونه یوځای پسي وکړئ. خو که په خپله خیمه کي لمونځ کوئ، یوازي دماسپښین لمونځ وکړئ.) بیا وقوف وکړئ، دعا کوي، طیبه، شهادت، تمجید، استغفار کلمي چي څومره کولای شئ، ویي وایاست. په ولاړه یي وایاست که ستړي شوئ، کښینئ او وایاست یي.

دمازدیګر وخت چي راشي دمازدیګر لمونځ وکړئ. بیا تر ماښامه همدغسي په ذکر او دعا لګیا اوسئ. تر څو لمر ولوېږي. تر لمر لویدلو وروسته، دمزدلفي په لور حرکت وکړئ، دماښام لمونځ اوس مه کوئ. په مزدلفه کي ماختن، دماښام او ماختن لمونځونه یوځای وکړئ. بیا که غواړي بیده شئ، خو بیداري غوره ده. په تسبیح، درود او استغفار لګیا اوسئ. تهجد وکړئ. تر څو سپیدي وچوي، دسهار لمونځ په غلس (تیاره) کي خو تر سپیدو وروسته وکړئ. وقوف وکړئ، ودرېږئ تر ډېرو دعا کوئ.

داد ذي الحجي لسمه ورځ ده. دلته په مزدلفه کي ډبري ټولي کړئ، ۴۹ یا ۷۰ داني (نهه څلویښت یا اویا داني)

داحتياط لپاره خو داني زياتي درسره واخليځ. له دي ځايه حركت وكړئ، منى ته لاړ شئ. جمره عقبه اوه ډبري وويلئ. بيرته راشئ، په منى كي قرباني وكړئ او سر وخريئ. اوس احرام خلاص كړئ او جامي واغوندئ، مكي ته راشئ دزيارت طواف وكړئ. دا طواف ركن (فرض) دى.

تر طواف وروسته بيا منى ته لاړ شئ، شپه هلته تيره كړئ. سهار دذي الحجي په يوولسمه نيټه، تر زوال وروسته، لومړني شيطان اوه ډبري وويلئ. يوه لورته شئ دعا وكړئ. بيا دوهم اوه ډبري وويلي او دعا وكړئ. بيا دريم وويلئ خو دعاء مكوئ، بيرته راشئ. اوس بيا شپه په منى كي پاته شئ.

دذي الحجي په دوولسمه نيټه، تر زوال وروسته، همداسي جمري وويلئ او شپه په منى كي تيره كړئ. دذي الحجي په ديارلسمه نيټه، همداسي جمري وويلئ او مكي معظمي ته بيرته راشئ.

كه په دوولسمه نيټه جمري وويلئ او مكي معظمي ته بيرته راشئ هم جائز دي. خو تر لمر لويدلو وړاندي به له منى څخه وزئ. مكي ته راشي. حج هم بشپړ شو.

"دمولانا محمود حسن ګنګوهي، ددار العلوم دستر مفتي له بيان څخه." (النور مياشتنى، جنوري ٢٠٠٢م)

دحج مناسکو ته یو نظر

لومړۍ ورځ	دوهمه ورځ	دریمه ورځ	څلورمه ورځ	پنځمه ورځ
- له مکې څخه منى ته تلل. - په منى کې ورځ - ماسپښین - مازدیګر - ماښام - ماخستن - شپه په منى کې.	- دسهار لمونځ په منى کې کول اوعرفات ته تلل. - دماسپښین لمونځ په عرفات کې. - دعرفات وقوف. - مادیګر په عرفات کې - مزدلفې ته تلل. - دماښام او ماخستن لمونځونه. - په مزدلفه کې شپه.	- په مزدلفه کې لمونځ او منى ته تلل. - دلوى شیطان ویشتل. - قرباني کول - حلق یا قصر کول - احرام پرانستل - دزیارت طواف. - منى کې شپه کول.	- په منى کې ترزوال وروسته رمى. - کوچنى شیطان ویشتل. - منځنى جمره. - ستر شیطان ویشتل. - که طواف پاته وي هغه کول. - شپه په منى کې.	- په منى کې ترزوال وروسته رمى. - منځنى جمره - کوچنى شیطان ویشتل - ستر شیطان ویشتل - که طواف پاته وي هغه ترماښام وړاندي کول - په ۱۳ که دپاته کیدو اراده وي ترزوال وړاندي جمري ویشتل

دماشومانو حج

حج تر بلوغ وروسته فرضيږي، خو لکه څرنګه چي دماشومانو لمونځ او روژه صحيح ده، هغسي يي حج هم صحيح دی. که هغه ماشوم هرڅومره کوچنی هم وي او که دومره وي چي عقل او تميز ولري.

په مسلم شريف کي له ابن عباس (رضی الله عنهما) څخه روايت شوی دی چي، يوه ميرمن له خپلو ماشومانوسره درسول الله (صلی الله عليه وسلم) حضور ته راغله او پوښتنه يي وکړه: يا رسول الله! ايا ددوی هم حج شته؟ رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ارشاد وکړ:

"هو او تاسو ته يي ثواب رسيږي."

له دي حديث شريف څخه دا ثرګنديږي چي، دماشومانو حج صحيح کيږي او دماشومانو دحج ثواب مور، پلار او قريب ته هم رسيږي.

دسايب بن يزيد (رض) بيان دی چي زما عمر اوه کاله ؤ چي زه مي پلار له ځان سره درسول الله (صلی الله عليه وسلم) په ملګرتيا حج ته بوتلم او حج مو اداء کړ.

دا چي په ماشومانو حج فرض نه دی، نو ځکه يې حج نفلي کيږي او تر بلوغ وروسته که حج ورباندي فرض شي بيا به حج کوي. حج کوونکی ماشوم يا ماشومه که ډيرکم عمروي او نه پوهيږي، نو دهغه مور، پلار يا بل قريب دي دهغه داحرام

نیت وکړي. خو دا احرام واجب نه دی. که یې د احرام نیت ونشي هم کومه خبره نشته. بیا دي ولي د هغه له لوري د حج ټول احکام او افعال اداء کړي او هغه ماشوم دي له هغو ټولو خبرو ساتي کوم چې حاجي ته یې ځان ساتل ضرور دي. په طواف کي دي د هغه د ځان او جامو د پاکوالي خیال وساتل شي. که د احرام خلاف کومه خبره یا کار تري پیښ شي، په ولي باندي یې کوم دم نشته. خو که ماشوم یا ماشومه هوښیار وي، د ښه او بد تمیز کولای شي، بیا دي د مور یا پلار په اجازه احرام وتړي، داو داسه، پاکي او ناپاکي فکر دي کوي او د هغو ټولو خبرو اهتمام دي کوي چې یو احرام والا سړی یا میرمن یې کوي. کوم افعال چې ماشوم په خپله کولای نشي، لکه د جمرو ویشتل، هغه دي ولي وکړي. خو د عرفات وقوف، په منی او مزدلفه کي شپې تیرول، طواف ،سعی او نور دي وکړي. کي یې کولای نشوای، مور ،پلار یا ولي دي په غیږ کي واخلي یا دي په اوږه سپور کړي طواف او سعی دي ورباندي وکړي. د طواف او سعی په وخت دي د ځان او ماشوم نیت وکړي، تر څو د دواړو له لوري اداء شي. که له ماشوم څخه د احرام خلاف کوم څه پیښ شي، نو په ماشوم یا د هغه له لوري په ولي یې کوم دم (وینه – قرباني) نشته. ماشوم چې کوم افعال سرته رسوي، ثواب یې ورته رسیږي. انشاءالله. (محمدرفعت قاسمي غفرله.)

که ماشوم ورسره بوزي ایاتر بلوغ وروسته ورباندي حج فرضیږي؟

پوښتنه : ماشوم له ځان سره حج ته بیول مناسب نه دي ځکه دبیت الله په لیدلو حج ورباندي فرضیږي، که هغه بالغ شي او شتمن نه وي مړ شي ایا ګنهګار دی؟

ځواب :که ماشوم حج ته بوتلل شي، تر بلوغ وروسته ورباندي حج نه فرضیږي. هو که تر بلوغ وروسته شتمن شو نو ورباندي حج فرضیږي. دا دشمتني له امله، پخوا چي یي کعبه لیدلي ده له هغه امله ورباندي نه فرضیږي.

(امداد الاحکام ج ۲ ص ۱٦۳)

مسئله :که ماشومان بوتلل شي ، دهغوی هم حج کیږي، مور او پلار ته یي هم ثواب رسیږي، کوم افعال چي هغه کولای نشي ،مور ،پلار (یاهغه څوک چي بیولی یي وي) دي وکړي. مثلاً لبیک دي دهغه له لوري ووایي. رمی دي دهغه له لوري وکړي، هغه دي په غیږ کي واخلي طواف او نورڅه دي اداء کړي ، احرام دي وتړي ، که ماشوم خورا کوچنیی وي، یوازي جامي لري کول (لوڅول) یي هم کافي دي. (الجواب المتین، ص ۲۰)

(که ماشوم جامي هم لري نکړي، بیا هم ورباندي دم نشته. ماشوم چي څومره دحج افعال سرته رسوي، هغومره ثواب مومي.) (محمدرفعت قاسمي غفرله)

....

دبالغ اولاد حج

پوښتنه: چاچیل بالغ زوی یا لورحج ته بوتلل او حج یي وکړ. ایا هغه حج نفل کیږي؟

ځواب: که یي پیسي دهلک یا نجلۍ په ملکیت کي ورکړي، نو حج وروباندي فرضیږي او حج یي هم کیږي.
(آپ کي مسائل ج ۴ ص ۳۷)

مسئله: چا که دپلار په موجودیت، دپلار په شتمني حج وکړ، دپلار ترمړیني وروسته چي همدا شخص یي دمال وارث دی، که یي پخواني حج تر بلوغ وروسته ؤ نو فرض حج یي اداءشوی دی بیا وروباندي حج فرض نه دی.
(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۵۳۰ درد المحتار کتاب الحج ج ۲ ص ۲۰۱ په حواله)

دنابالغه ماشوم حج

پوښتنه: زما دحج اراده ده، له ماسره دوه نابالغ ماشومان، یوولس کلن او دیارلس کلن دي. دهغوی فرض حج کیږي که نفلي؟

ځواب: دنابالغ حج نفلي کیږي، تر بلوغ وروسته که هغوی وس درلود، په هغوی حج فرضیږي. (آپ کي مسائل ج ۴ ص ۳۷)

مسئله: که ماشوم حج وکړ او هغه دپوهي خاوند ؤ چي دحج داعمالو په مقصد پوهیده حج یي کیږي، خود حج فریضه وروباندي نه ساقطیږي. (ځکه هغه نابالغ دی.)

مسئله: که کوم ماشوم نه پوهیږي او دحج ورځي راغلي، د هغه دحج داعمالو اداء کول دهغه دولي په ذمه دي، په حدیث شریف کي راځي:

"که ماشوم لس حجونه هم وکړل خو چي بالغ شي وربانديلازم دی چي اسلامي حج اداء کړي. (که يي وس وي.)

مسئله: دحج دوجوب په شرايطوکي يو هم عقل دی، نو پړ مجنون (ليوني که څه هم بالغ وي) حج فرض نه دی او نه يي حج کول صحيح کيږي، هغه په دي هکله دناپوه ماشوم په څير دی.

مسئله: دحج دفرضيت يو شرط ازادي ده، نو پر غلام باندي حج لازم نه دی. (کتاب الفقه ج ۱ ص ۱۰۳۵، فتاوی محموديه ج ۱۷ ص ۱۸۹)

مسئله: پلاربي موره ماشوم پريښودلای او حج کولای شي. دپلار تر تللو وروسته دماشوم ولي يا تره دي دهغه روزنه وکړي، خو دماشوم لګښت دي پلار ورکړي.
(فتاوی دارالعلوم ج ۴ ص ۵۳۳)

مسئله: که کوم ليوني دحج احرام وتاړه او دعرفات تر وقوف وړاندي جوړشو، ليونتوب يي ختم شو. که يي بيا احرام وتاړه حج يي کيږي، خوکه يي احرام ونه تاړه نوفرض حج يي ادا نشو. (معلم الحجاج ص ۷۷)

مسئله: نابالغ به په بلوغ او مجنون به په جوړيدلو بيا حج کوي، خو چي قدرت ولري او شرايط برابر وي.

مسئله: که داحرام تر تړلو وروسته، څوک ليونی شو، يا احرام تر تړلو وړاندي ليونی ؤ، داحرام په وخت کي سم شو، داحرام نيت يي وکړ او تلبيه يي وويله بيا ليونی شو او ولي يي ورسره دحج ټول افعال اداء کړل، نودده فرض حج وشو، خوتر جوړيدلو وروسته دي دزيارت طواف په خپله وکړي. (معلم الحجاج ص ۸۸)

دنابالغه ماشوم احرام

نابالغه ماشوم که هوښیار وي او پوهیږي نو په خپله دي احرام وتړي او دحج افعال دي اداء کړي. دبالغ په څېر دي افعال ترسره کړي، که ناپوه او وړوکی وي، دهغه ولي دي دده له لوري دهغه احرام وتړي.

ناپوه کوچنی که په خپله دحج افعال ترسره کړي یا احرام په خپله وتړي، دا افعال او احرام نه صحیح کیږي، خو پوه ماشوم که احرام وتړي او افعال ترسره کړي صحیح کیږي.

مسئله :دپوه ماشوم له لوري دي دهغه ولي احرام ونه تړي.

مسئله :پوه ماشوم چي کوم کارونه په خپله کولای شي، ودي کړي او که یي کولای نشوای ولي(سرپرست) دي وکړي. خود طواف لمونځ دي په خپله وکړي، ولي دي نه کوي.

مسئله :پوه ماشوم دي په خپله طواف وکړي او ناپوه دي په غیږ کي واخلي طواف دي ورباندي وکړي، دادعرفات دوقوف ،سعی او رمی حکم هم دی.

مسئله :ولي ته ضرور ده ترڅو ماشوم له ممنوعاتو څخه منع کړي. که ماشوم کوم ممنوع کار وکړي ،دهغه جزا په ماشوم او ولي نه لازمیږي.

مسئله :ماشوم ته احرام لازم نه دی، ماشوم که ټول افعال پریږدي یا ځیني پریږدي ، په هغه باندي کومه قضاء او جزاء نه واجبیږي.

مسئله :ولي چي له ورسره ملگرو، ورته ډیرنژدي وي هغه دي دماشوم احرام وتړي . مثلاً، که پلار او ورور دواړه ورسره وو ،که يي پلار ورته احرام وتړي غوره ده . که يي ورور يا بل څوک وتړي هم جايز دی.

مسئله :دمجنون (ليوني) حکم په ټولو احکامو کي دناپوه ماشوم په څير دی. که څوک داحرام تر تړلو وروسته ليونی شو،يا که دممنوعاتو مرتکب شي په جزاء کي يي اختلاف دی .خو که احتياطا يي جزا ورکړل شي غوره ده،حج يي بلا اختلافه صحيح دی.

مسئله :که تر احرام تړلو وړاندي ليونی ؤ ، ولي دهغه له لوري ورته دده احرام وتاړه، بيا جوړ شو .که تر جوړيدلو وروسته، په خپله بيا احرام وتړي او دحج افعال اداء کړي نو فرض يي اداء شو .(معلم الحجاج ص ۱۹۰)

مسئله :بي عقل ،ليونی ،ماشوم او بي هوښه که بالکل رمی ونکړي (شيطانان ونه ويلي) فديه وړباندي نه واجبيږي.

(معلم الحجاج ص ۸۷)

دحج دېيان لنډيز

که غور وشي، دحج دسفرحيثيت دتربيې او روزنې يوه دوره ده .هرحاجي ګواکي دشريعت له لوري په يوه جوړشوي تربيتي مرکز کي برخه اخلي. په دي مرکزکي هرشخص خپل انانيت (ځان غوښتنه) ختموي او دخپل ژوند په هره ګوښه کي، دالله تعالی دحکم دجاري کولو روزنه ورکوله کيږي.لکه له احرام څخه چي ډېر حلال شيان دالله تعالی په حکم ورته منع کيږي او دتلبيې په بيا ،بيا ويلو محرم اعلانوي چي هغه له خپل زړه او دماغ څخه، دغيرالله دحاکميت فاسد خيال لري کوي.بيا دبيت الله شريف طواف، دصفا او مروه ترمنځ سعی، د منیٰ په وادي کي حاضري، دمجنون په څېر دعرفي په لور خوځېدل، په عرفات کي له امام سره دمازديګر لمونځ ماسپښين مهال اداء کول. دالله تعالی په دربارکي له الحاح او زاريو سره دعا کول ، بيا مزدلفي ته تلل دماښام لمونځ ماخستن اداء کول. په لسمه نيټه دجمري ويشتل او دالله تعالی دلوېي په اقرار له شيطان څخه دبيزاري څرګندونه. دالله تعالی لپاره قرباني کول او دزيارت طواف.

ددي ټولو افعالو او مناسکو يو ، يو جزء دا راته يادوي چي موږ ازاد نه يو، بلکي دااحکم الحاکمين دااحکامو پابند يو، له دي امله په قرآن کريم کي چي چيري دحج دااحکامو يادونه کيږي، هلته په تقوی ډېرتاکيدشوی دی.

لنډه دا، کوم کسان چي دحج دسفردنیک مرغي په ترلاسه کولو برخمن کیږي، هغوی دي له دي ځانګړتیاسره دا لاربښووني په نظرکي ولري بلکي په ټول ژوندکي یي دعملي کولو وعده وکړي.

په اصل کي دادحج روح ده. علماءاو مشایخ لیکي چي د مقبول حج نښه داده چي حج دانسان په ژوند کي ددیني انقلاب ذریعه شي. که یي وړاندي دالله تعالی یا دبندګانو په حقوقو کي څه کمښت کړی وي یا وریاندي اخته وي، ترحج وروسته ورڅخه تائب شي. که خدای جل جلاله مکړه له چاسره په زړه کي کینه اوکرکه لري، ترحج وروسته ورته زړه دهنداري په څیر پاک کړي. که یي لمونځ نه کاوو، لمونځ کوونکی تري جوړ شي. که یي دسنت خلاف کارونه کول، تر حج وروسته هغه پریږدي او داسي نور...

داهغه معیاردی چي ددي په رڼا کي دحج هرقصد کوونکی دامعلومولای شي چي حج یي قبول شوي او که قبول شوی نه دی.

الله تعالی دي ټول دحج په قبول سره ونازوي. دامت هر وګړی دي له کتاب اوسنت سره ملګري ولري او په هغوی دي دعمل کولو توفیق ورکړي. آمین. ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم.

دعاغوښتونکی؛ محمدرفعت قاسمي، ددیوبند ددارالعلوم خادم
د۱۴۲۹هـ کال دذي قعدي ۵، د۲۰۰۸ کال دنومبر ۵، دجمعي شپه.
دژباړي پای: ۵ محرم ۱۴۳۱هـ ق، جدي ۱۳۸۸هـ ش